# لومړی څپرکی
# عموميات
# سيمه ييز اقتصاد

تعريف :

داقتصاد علم يوه څانگه ده چې ديواقتصاد جغرافيايي ساختار (بڼه) تر څيړنې لاندې نيسي په تيره بيا په سيمه کې صنعتي موقعيت**(Industrial location)** سيمه ايزه پرمختيا، ښاريتوب،مهاجرتونه **(Migrations)** او د ځمکي څخه گټه اخيستنه څېړي.

## سيمه (Region) څه ته وايي؟

دځمکي يا اوبو يوه متوسطه پيمانه ساحه ده چې د فزيکي،انساني ،او وظيفوي مشخصاتو پر بنياد سره بيليږي.

فزيکي مشخصات : په دغه مشخصاتوکې ځنگلونه، سطحې (ځمکې)، منرالي سرچېنې او اقليمي فکتورونه گډون لري.

انساني مشخصات : په دغه مشخصاتو کې تاريخي ،توريستي اومذهبي سيمې گډون لري.

وظيفوي مشخصات : په دغه مشخصاتو کې دکاروبار جريانات ، ميډيا اوداسې نور فکتورونه گډون لري.

## ولې سيمه ييز اقتصاد مطالعه کيږي؟

لکه څرنگه چې پوهيږو هره سيمه بيله بيله ځانگړنه لري پس دهرې سيمې اقتصادي اوسيمه ايز پرابلمونه هم سره توپير لري ځکه نوسيمه ايز اقتصاد ته اړتيا ليدل کيږی ترڅو چې د نوموړي علم څخه په گټه اخيستنې سره دهرې منطقې لپاره پلان جوړاو داسې نورې اړينې کړنې ترسره شي.

هغه بيلا بيلې برخې چې منطقوي اقتصاد دانان پکې څيړنه کوي :

دصنعتي موقعيت مشخصات (په ملي او منطقوي کچه )

دتصديو د ورود او وتلو سيمه اييز اقتصادي تاثيرات

د کورني مهاجرتونومشخصات اودځمکې په گټه اخيستنه کې تغيرا ت

سيمه ييز تخصص

داقتصادي او ټولنيزو تغيراتو محيطي تاثيرات

داقتصادي او اجتماعي شرايطوجغرافيايي اتحاديې.

# دسيمو ډولونه

نړیوالې سیمې : عبارت له هغو منطقو څخه چې د دوو عمده محیطونو په وسیله یود بل سره بیلیږي ، چې دغه دوه محیطونه عبارت دي له ( اوبه او ځمکې څخه ) ځکه نوموړې سیمې په دوو لویو برخو هم ویشل کیږي.
ځمکنۍ سیمې ( براعظمونه)
اوبیزې سیمې (بحرونه)

## په بشري جغرافیه کې دسیمو ډولونه

تاریخي سیمې : چې تاریخي قدامت ولري .لکه قندهار ،غزني ، غور.
توریستي یا سیاحتي سیمې : چې کافي سیاحتي مناطق ولري لکه اسکندریه، متحده عربي امارات،مري،کالام،روم،سویس،هندوستان،په اروپا کې ځینې سیمې سویزرلینډ،نیوزیلینډ او داسې نور.
دطبیعي سرچېنوسیمې : چې طبیعي سرچېنې په خاصه توګه منرالي سرچېنې ولري مثلاً په عربي ممالکو کې تیل لرونکې سیمې،د پنسلوانیا او سکاټلینډ د ډبرو سکارو سیمې او داسې نور.
مذهبي سیمې : چې خاص مذهبي ځایونه ولري لکه په سعودي عربستان کې مدینه منوره،مکه مکرمه ، او دمسلمانانو لومړۍ قبله مسجد اقصی او داسې نورځایونه همدارنګه په نړۍ کې داسې نورې سیمې .
د لا زیات وضاحت لپاره مونږ کولای شو چې دسیمه ایز اقتصاد محتویات په دریو اساسي پوښتنو کې خلص کړو.
**What** (څه؟): څه - راجع کیږي ټولواقتصادي فعالیتونو ته یانې نه یواځې په تصدیو، فابریکو،او کانونو کې تولیدي ظرفیتونو تاسیسات بلکې د سوداګریزو ، کورنیو ،خصوصي او عمومي اداراتو کې هم تاسیسات په برکې نیسي.
**Where** (چېرته؟): چېرته داقتصادي فعالیتونو موقعیت په بر کې نیسي او پدې برخه کې د فضايي ځایونو (بیلګو) دنړدیوالي ،متمرکزیت ،انحراف ،ورته والي او توپیر پو ښتنې ګډون لري.
**Why**(ولې؟)**:** په ولې کې په پورتني مسایلو کې د اقتصاد پوهانو تیوریګانې او تحلیل شامل دي.

## دښارونو پېژندنه

ښارونه هغه ځایونه دي چې دقوانینو دحدودو په ټاکلو سره دیوې سیمې په جغرافیایي محدوده کې رامنځته شوي وي چې د ودانیو ، شغل او نورو ورته عواملو په اساس پېژندل کېږي.

د ښارونو ډیری اوسېدونکي په کسبونو ، صنعت او کرنه بوخت دي او همدارنګه دښار اوسېدونکي په اداري فعالیتونو او ښاري خدمتونو سره هم خود کفا دي.
دپورته تعریف په اساس کولای شو ښارونه په بېلابېلو ډولونو وویشو چې ځيني يې دادي :

1. سیاحتي او توریستي ښار: هغه ښارونه دي چې دهغوی ډیری عواید او لاسته راوړنې دسیاحتي او توریستي چارو څخه وي ساحتي او توریستي ښار ګڼل کېږي.
2. کولتوري ښار : هغه ښار چې دهغې په داخل کې علمي او ښوونیز مرکزونه موجود وي او دهغې په وسیله دشهرت درجې ته رسېدلی وي او یاهم پکې ډیرو تحقیقاتو صورت نیولی وي کولتوري ښار بلل کېږي.
3. مذهبي ښار : هغه ښارونه چې مذهبي او عقیدوي ځایونه ولري او دهمدې تقدس په اساس يې خلک جذب کړي وي مذهبي ښارونه ورته وایي.
4. نظامي ښار : هغه ښارونه چې هلته ډیری نظامي او عسکري چارې سرته رسېږي هغه نظامي ښارونه بلل کېږي.
5. بندر لرونکی ښار : هغه ښارونه چې له سیندونو او اقیانوسونو سره نږدې واقع وي او یا هم پکې بندرونه موجود وي دبندر لرونکو ښارونو په نوم يادېږي.
6. صنعتي ښار : هغه ښارونه چې هلته صنعتي فعالیتونه صورت نیسي او همدارنګه تولید کوونکي وي نو صنعتي ښارونه يې بلي.
7. سوداګریز ښار : هغه ښارونه چې هلته سوداګریزې کړنې تنظمېږي او د همدې ارزښت په اساس پکې فعالیتونه تر سره کېږي نو هغه ښارونه سوداګریز ښارونه ګڼي.

## ځانګړي مکان ټاکنې پرېکړې
## Individual location decisions

مفهوم : دځانګړې مکان ټاکنې پریکړو څخه مراد دادی چې څنګه دځانګړي مکان ټاکنې واحدات (**Location units**) لکه کورنۍ ،کاروباريان او دولتي دواير دخپلو اوسيدو او کړنوسرته رسولو لپاره مکان ټاکي او یامکان بدلوي خو البته په لومړي سر کې زموږ تحلیل دجزوي اقتصاد په کچه وي بیا به وروسته دملي اقتصاد په کچه تحلیل کړو یانې لومړی به په **Micro level** چې دلویو واحدونو جوړونکي دي تحلیل وکړو لکه یوه یا دوه کورنۍ، کاروبار او دولتي (عامه) اداره ، بیابه وروسته په **Macro level** یادلویو واحدونو لکه ښارونو ،صنعتونو ،سیموو او داسې نورو کچو تحلیل وکړو.

## دمکان یا ځای ټاکنې واحدونو پیژندنه
## (Concept of Location Units)

په ځانګړي ډول له یوې کورنۍ ،کاروبار او دولتي ارګان څخه چې دبیلا بیلو انګیزو په وسیله ځان ته مکان ټاکنې عبارت دي.

## دمکان ټاکني واحدونو ډولونه

داستو ګنځای واحدونه (**Residential units**) چې ټولې کورنۍ پکې ګډون لرى.
کاروباري واحدونه (**business units**)چې ټول کاروباري واحدونه پکې ګډون لري.
عامه واحدونه (**public units**) چې ټولې دولتي عامه ادارې پکې ګډون لري.
له پورتني واحدونو څخه ځینې ځانګړې پریکړه کوونکي دي اما بیا ځیني دبهرنیو مقاماتولخوا مکان ګذاري کیږي.

## دمکان ټاکني تر شا مقاصد

د مکان ټاکنې هر واحد ( **Location unite** ) د خپل یوه اندازه انګیزو په اساس ځان ته مکان ټاکي د بیلګې په ډول :
کورنۍ : ځان ته داسې مکان ټاکي چې افاده یې پکې اعظمي وي  یانې لومړی دبیلا بیلو دندو څخه لاسته راغلي عواید په بیلا بیلو لارو کي مصرف کیدونکي مصارف لکه دکور کرایه،دسمبالښت مصارف ،مالیات ،دندې ته درسیدو مصارف پیرودل ،ښوونځي ته د تلو مصارف ،سیاحتي مصارف او داسې نورو څخه زیات وي او دوهم دا چې ځینې نور فکتورونه لکه امنیت ،تهذیب ،سیاسي اوټولنیزحالات تامین وي .
کاروباریان : ځانته داسې مکان ټاکي چې ګټه یې  اعظمي وي او یا مصارف یې  اصغري وي ،یانې په لومړي قدم کې متوقعه عواید یې د متوقعه مصارفوڅخه زیات وي او دوهم قدم کې امنیت ،او ځیني نور فکتورونه تامینوي .
عامه ادارې : ځانته داسې مکان ټاکي چې لومړی سیاسي  او ټولنیزه جنبه ولري اوبیا اقتصادي.

## دمکان عوامل
## Location factors

دبیلا بیلو مکاني واحدونو باوجود ټول واحدونه د یو اندازه عواملو په مقابل کې حساس وي یانې د مکانونو ګټې دځینو عناصرو په یوه ټاکلي سیټ کې طبقه بندي کیدای شي لکه**:**

محلي غیر قابل لیږد عوامل  او محصولات (**Local inputs and out puts**)
عوامل
په یوه ټاکلې موده کې عبارت له هغه تولیدي عواملو،خدماتو او داسې نورو فکتورونو څخه دي چې په یو ټاکلي مکان کې شتون ولري او په اسانۍ سره بل ځای ته دلیږد وړ نه وي اود استوګنې  مکان ټاکنې رجحان کې ډیر مهم رول لوبوي لکه په یو ټاکلي مکان کې ځمکه، اوبه،اب وهوا (اقلیم)،دخاورې کیفیت،محلي خدمات (پولیس،اطفایه)  په لنډمهال کې کار، تهذیبي عوامل (کولتور،دګاونډیتوب کچه یا ټولنه ).
محصولات

عبارت له هغه تولیداتو،خدماتو اوځيني نورو فکتورونو څخه دي چې د خپل ماهیت له نظره یوه ټاکلي مکان کې وجود ولري او کیدای شي چې د مکان د مزیت(غوره والي) او عدم مزیت لامل وګرځي د بیلګې په ډول دکورنیو دکار محصول لومړی په خپل کور کې په مصرف رسیږي او بیا په محلي مارکیټ کې، ځانګړي ټولنیز خدمات دحدوداتو په نظر کې نیولو سره په ټاکلو سیمو کې وي،کثافات (**waste**)چې د یومکان دعدم مزیت لامل ګرځي هم یو غیر قابل لیږد محصول دی.

## دلیږد وړ عوامل او محصولات

### عوامل

عبارت د هغه تولیدي عواملو، خدماتو او داسې نورو فکتورونو څخه دي چې په یو ټاکلي مکان کې وجود ولري او په اسانۍ سره دلیږد وړ وي لکه روغنیات، مواد، ځیني خدمات او داسې نور.

### محصولات

عبارت له هغه محصولاتو څخه دي چې د لیږد وړ وي او په اسانۍ سره خرڅلاو ته وړاندې شي.

### د مکان عواملو طبقه بندي

د یو مکان نسبي مرغوبیت (منلی ، دښه کیفیت درلودل ) یا مطلوبیت د څلورو فکتورونو تابع دی :

1. محلی عوامل : په یو مکان کې د غیر قابل لیږد عواملو عرضه.
2. محلی تقاضا: په یو مکان کې د غیر قابل لیږد محصولاتو خرڅول.
3. دلیږد وړ عامل : د لیږد وړ عواملو عرضه چې د بهرنۍ سرچېنو څخه یوې سیمې ته راوړل شي.
4. بهرنی تقاضا : دلیږد وړ محصولاتو خرڅلاو بهرنیو مارکیټونو کې.

# دویم څپرکی
# سیمه ییز اقتصادي انضمام

## دسیمه ییز اقتصادي انضمام مفهوم او پیژندنه

داقتصاد په علم کي د ډیرو اصطلاحاتو په اړه د تعریف نه شتون ستونزه نده مګر دهغې پر ځای دپریمانه خو یو له بل سره متناقضو(مخالفو) تعریفونو شتون یوه ستره ستونزه ګڼل کیږي.

ددې عمده لامل کیدای شي دا وي چې اقتصاد یو ټولنیز علم دی او هره برخه یې دبې شمیره ټولنیزو،محیطي ،طبیعي او کولتوري فکتورونو تر اغیز لاندې قرار نیسي چې پر یو وخت ددغو ټولو فکتورونو تشخیصول او دهغوی داغیزو پیژندل یوستونزمن خو دیوې موضوع دتعریفولو لپاره اړین کاردی آن تر دې چې پخپله داقتصاد دعلم لپاره یو داسې تعریف نه دی شوی چې ټول پوهان دهغې په اړه په یوه خوله وي.

دا چې انضمام هم یوه اقتصادي موضوع ده نو دافتصاد دنورو موضوعګانو په څیر د ورته ستونزې سره مخ ده دانضمام لپاره بیلابیل تعریفونه وړاندې شوي دي چې ځیني یې ډیر پراخه او ځیني نور یې بیا ډیر محدود او ساده مفهوم افاده کوي.

د داسې یو تعریف پیدا کول چې ټولوپوهانو ته دمنلو وړوي خورا ستونزمنه او آن تر دې چې ناشونې ده  نو په همدې اساس زمونږه هڅه داده تر څو دانضمام په اړه دبیلا بیلو څیړونکو تعریفونه ذکر او دهغې څخه مهم ټکي راوباسو.

## د سیمه ییز اقتصادي انضمام تعریفونه

1. په یوه جغرافیایي سیمه کې دیوګروپ هیوادونو تر منځ هغه تړون ته ویل کیږي چې موخه یې داجناسو،خدماتو او تولید عواملو د ازادانه انتقال په لاره کې دتعرفوي خنډونو راکمول او په پای کې دهغوی له منځه وړل وي .
2. یا په بل عبارت : سیمه ییز اقتصادي انضمام هغو ترتیباتو ته ویل کیږي چې دهغوی په ترڅ کې دیوې سیمې هیوادونه هوکړه کوي څو خپله سوداګري، مالي او یا پولي پالیسي سره همغږې کړي.
3. او یا په پراخه مفهوم سره : سیمه ییز انضمام دموقعیت په اساس په یوه معلومه جغرافیوي سیمه کي ددولتونو داتحادیې څخه عبارت دی چې موخه یې دغړو هیوادونوخوندیتوب او ترقي وي داسې یوه اتحادیه چې مناسبات یې دیو تړون په اساس تنظیم شوي وي .

4. **Professor Andre Sapir** وايي: انضمام یوه تدریجي او پراخه پروسه ده چې په کې دښکاره او واضحو موخو په تعقیبولو سره د غړو هیوادونوتر منځ د تبعیضي پالیسۍ او سوداګرۍ پر وړاندې نور خنډونه په بشپړه توګه له منځه وړي.

## دسیمه ییز انضمام په اړه ځیني ټکي

- د انضمام اصطلاح کیدای شي دپروسې او یا هم د حالت (**state**) مفهوم افاده کړي چې دنوموړې پروسې په پایله کې رامنځته شوې وي خو دانه څرګندوي آیا انضمام د پروسې وروستۍ نقطې (**terminal point**) او که کومې منځنۍ نقطې ته اشاره کوي خو کیدای شي لومړي حالت ته دلوړې کچې او وروستي حالت ته دټیټې کچې انضمام وویل شي .
- دانضمام موخې کیدای شي د اقتصادي څخه نیولي تر سیاسي پورې وي خو په وروستیو کې دغه موضوع دسیاسي اقتصاد په چوکاټ کې داخله شوې ده کوم ځای کې چې سوداګریزې موخې دلوړو سوشیوپولیټیکي اهدافودلاسته راوړلولپاره یوه وسیله ګڼل کیږي.
- که وغواړو دانضمام لپاره یو ښه تعریف ولرو نو بهتره به داوي چې دغه اسم سره ځیني صفتونه ذکر کړو څوپه سمه توګه مشخص شي د بیلګې په توګه ملي انضمام (دیو هیواد د ولایتونوتر منځ) نړیوال انضمام (دنړۍ د ټولو هیوادونو تر منځ ) سیمه ایز انضمام (دڅو هیوادونو تر منځ)سکتوري انضمام (د دوه یا څو هیوادونو دځانګړي سکتورونو لکه بریښنا،ترانسپورت،مخابرات،معادن اوداسې نوروتر منځ)

## د اقتصادي انضمام مهم شرطونه

داقتصادي انضمام دموجودیت لپاره درې مهم شرطونه وړاندي شوي چې عبارت دي له:

- ✓ دکار ویش **(Division of Labor)**
- ✓ خوځښت **( Mobility)**
- ✓ عدم تبعیض (**Non discrimination**)

بشپړ انضمام ددې ایجاب کوي چې هرهغه څه چې بازارته عرضه شوي وي په کافي اندازې سره دخوځښت وړ وي او عدم تبعیض په دې مانا چې نه پلورونکي اونه پیریدونکي دپلورل شویواوياپيرودل شویوشیانو دسرچینې یا منشا (**Origin**) په فکر کې وي.

بشپړانضمام ددې ایجاب کوي چې خوځښت دې په کافي اندازه وي (**Adequate Mobility**) نه په بشپړډول سره (**perfect Mobility**) ځکه دا اړینه نده چې د تولید هر واحد اویادتولیدهرعامل دي دانتقال وړوي همدومره بس دی چې دتولې عرضې یوه ټاکلې برخه دې پرته له غیر ضروري لګښتونو او پرته له خطر څخه ولیږدول شي.

را ځئ چې دعدم تبعیض اړیکه د انضمام سره داجناسو،کاراوپانګې په بازارونو کې په جلاډول سره دیو مثال په ترڅ کې روښانه کړو:

هغه وخت ویلی شو چې په اروپایي اتحادیه کې دغنمو بشپړانضمام رامنځته شوی کله چې یو پیرودونکی دې ته ونه ګوري چې دا غنم په فرانسه کې کرل شوي او که په جرمني کې او پلورونکی هم دې ته ونه ګوري چې د هغه غنم د اروپایي اتحادیې کوم هیواد ته لیږدول کیږي په دغه دواړوبرخو کې ستونزې د ځینوقوانینو،مقرراتو،اداري محدودیتونو او تعرفوله امله رامنځته کیږي چې دهغې دلمنځه وړلو په صورت کې دانضمام څخه خبرې کیدای شي.

په همدې ډول د اروپایي اتحادیې کار په بازار کې دبشپړانضمام څخه هغه وخت خبرې کیدای شي کله چې د کارخانې څښتن دې ته ونه ګوري چې یوکارکوونکی د بلجیم څخه راغلی او که یاهم دایټالیا څخه او کار کوونکي دې ته ونه ګوري چې د اروپایي اتحادیې په کوم هیواد کې نوموړی په دنده ګمارل کیږي ددغسې شرایطو رامنځته کیدل ددولتي محدودیتونو دلمنځه تلو په صورت کې ممکن بریښي خو بیا هم ژبني او کلتوري توپیرونه یو څه خنډ ګرځیدای شي.

په همدې توګه دپانګې په بازار کې هغه وخت د بشپړ انضمام څخه خبرې کیدای شي کله چې دونډو پیرودونکي دې ته ونه ګوري چې دونډو دنشر کوونکې کمپنۍ مقر په کوم ځای کې دی او یا په کوم ځای کې فعالیت کوي او په همدې توګه شرکت دې ته ونه ګوري چې دونډو پیرودونکی دکوم هیواد تابعیت لري او په کوم ځای کې اوسیږي دغه شرایط ددولتي محدودیتونو په لمنځه وړلو سره رامنځتته کیدای شي پورتنیو څرګندونو داجوته کړه چې خوځښت او عدم تبعیض د انضمام لپاره د لازمي شرطونو په توګه او دکارویش د کافي شرط (**Sufficient condition**)په توګه ومنو.

## دسیمه ییز انضمام پروسه

په بریالی توګه د انضمام پروسې د عملي کیدو لپاره باید لاندې عمده ټکي په نظر کې ونیول شي:

- ✓ دروښانه ګډو اهدافو ټاکل
- ✓ ګام په ګام پرمخ تلل
- ✓ دروښانه او عملي دلیرد وړ څیزونو (**Deliverables**) معرفي کول
- ✓ دیو کاري چوکاټ رامنځته کول

دانضمام یوه منظمه پروسه ددې ایجاب کوي چې یو لړ پرله پسې پړاوونه تعقیب شي چې په لاندې توګه دي:

لومړی پړاو- دانضمام دکچې ټاکل: دانضمام دشپړو بیلا بیلو کچو څخه چې وروسته څیړل شوي باید یوه کچه وټاکل شي لکه د ازاد تجارت سیمه ،ګډبازار .... او داسې نور

دوهم پړاو- دسیمه ییز انضمام لپاره دغړو هیوادونو ټاکل: د نورو معیارونو تر څنګ دهیوادونو سایز او دعدم تجانس درجه دهیوادونو دټاکلو لپاره مهم ګڼل کیږي.
دریم پړاو : دپروسي دانعطاف پذیری ( ارتجاعیت) دځانګړنو ټاکل: دانعطاف پذیری څخه موخه داده چې ایا دغه تړون نوي غړي مني او که نه ؟


## دسیمه ییز اقتصادي انضمام اوسیمه ییزې همکارۍ توپیر

## Regional economic integration versus cooperation

مونږ ډیر ځله درسنیو له لاري اورو چې ځیني هیوادونه دنورو سره په بیلا بیلو برخو کي خپلي همکارۍ زیاتوي او یا خپلو اړیکو ته پراختیا ورکوي، دځو هیوادونو ترمینځ دګازو او یا هم دتیلو نل لیکه تیریږي، او یا هم څو هیوادونه دچاپیریال دککړتیا دمخنیوي لپاره ګډي هلې ځلې پیل کوي نو آیا دا ټول سیمه ییز اقتصادي انضمام ګڼلی شو ، او که دا یواځې سیمه ییزه همکاري ده ؟

سیمه ایزه همکاري او سیمه ایز اقتصادي انضمام یو شان نه دي آن داچې ددې دواړو تر منځ ډیر لږ اړیکه لیدل کیږي کیدای شي ځیني هیوادونه پخپل منځ کې دګڼ شمیر مسایلو په برخه کې دهمکارۍ لپاره هوکړې ته رسیدلي وي خوپرته له دې چې یو بل ته دسوداګریزو امتیازاتو په اړه قایل شي.

لاندي دیاګرام دسیمه ایزانضمام هغه لړۍ ارایه کوي چې په ترڅ کې یې دسوداګریز (اقتصادي )انضمام او سیمه ایزې همکارۍ تر منځ توپیر څرګندیږي.




که پورتنی ډیاګرام ته ځیر شو لیدل کیږي چې سیمه ایزتوب په دوه عمده بڼو ځرګندیدای شي چې یوه بڼه یې سیمه ایزه همکاري او بله بڼه یې سیمه ایز اقتصادي انضمام دی سوداګریز انضمام چې دبازار انضمام هم بلل کیږي دسیمه ایز اقتصادي انضمام عمده ځانګړنه ده او وظیفوي او سکتوري همکاري دسیمه ایزې همکارۍ ځانګړنه ده په داسې حال کې چې دپالیسیو همغږي کول دسیمه ایز اقتصادي انضمام او سیمه ایزې همکارۍ ګډه ځانګړنه شمیرل کیږي.

یانې دسیمه ایز اقتصادي انضمام څخه یواځې هغه وخت خبرې کیدای شي چې دسیمې دهیوادونوترمنځ دسوداګرۍ په اړه ځانګړي ترونونه صورت ونیسي چې لومړنی موخه یې دسیمې په کچه دسوداګرۍ په وړاندې دشته خنډونو لیرې کول وي.

دسیمه ییز اقتصادي انضمام عمده دندې

که څه هم هر سیمه ایز انضمام دخپلو اړتیاوو په بنسټ خپلې ځانګړې موخې تعقیبوي خو په عمومي توګه د **van langenhoue** په اند هر سیمه ایز انضمام باید لږ تر لږه اته مهمې دندې تر سره کړي:

1. په سیمه کې دسوداګریزو اړیکو پیاوړتیا.
2. دخصوصي سکتور دپراختیا لپاره دمناسب چاپیریال رامنځته کول.
3. داقتصادي او سیمه ایز انضمام پر مټ دزیربنایي پروګرامونوپرمختیا.
4. ددولتي سکتور د ادارو پرمختیا او ښه حکومتداري.
5. دټولنیزې انزوا راکمول او دیوې هر اړخیزې مدني ټولنې رامنځته کیدل.
6. دسیمې دسولې او امنیت د چاپیریال ساتنې پروګرامونوجوړول.

7. په سیمه ایزه کچه دچاپیریال ساتنې پروګرامونو جوړول.
8. دنړی دنوروسیمو سره د اړیکوپیاوړي کیدل.

## دسیمه ایز اقتصادي انضمام پړاوونه

دا چې سیمه ایز انضمام یوه اوږده پروسه ده نودغه پروسه عموماً پنځه یا شپږ پړاوونه طی کوي چې عبارت دي له :

1. دامتیازي تجارت تړون **preferred trade agreement**
2. دازاد تجارت سیمه **free trade area**
3. ګمرکي اتحادیه **costoms union**
4. ګډ بازار **common market**
5. اقتصادي اتحادیه **economic union**
6. سیاسي اتحادیه **political union**

پورتنی هر پړاو دځانګړو مشخصاتو درلودونکی دی چې په لاندې ډول سره یې تشریح کوو.

### لومړی پړاو: امتیازي تجارت تړون **preferred reade agreement**

امتیازي تجارت تړون د اقتصادي انضمام تر ټولوکمزوری او ابتدایي شکل دی ددغه تړون په اساس دغړو هیوادونو تر منځ په یو یا څو کټګوري اجناسو باندې تعرفې کمیږي خو په پوره ډول سره له منځه نه ځي په داسې حال کې چې په نورو اجناسو باندې تعرفې پخپل ځای پاتې کیږي یانې دځینو هیوادونو په بنسټ دځینونورو سره امتیازي او تبعیضي چلند کیږي.
خوباید په یاد ولرو چې دغه ډول تړون دنړیوال سوداګریز سازمان(**WTO**) دغړوترمنځ مجاز نه دی ځکه د **WTO** هر غړی مکلف دی چې د نوموړي سازمان بل هر غړی سره تر ټولو دوست هیواد یا **Most favored Nation** په توګه رویه وکړي.

د **MSFN** تر اصل لاندې هیوادونه په دې مکلف دي چې د **WTO** دنورو غړو پر وړاندې به له تبعیض څخه کار نه اخلي دبیلګې په توګه که دبایسکل په وارداتو دیو هیواد ټیټه تعرفه **5**٪ وي نو نوموړی هیواد باید د **WTO** دټولو غړو هیوادونو څخه دبایسکل په واردولو **5**٪ تعرفه وضع کړي. دځیني هیوادونو په وړاندې تبعیضي یا ترجیحي رویه مجاز نه ده خو یو هیواد حق لري چې دهغو هیوادونوڅخه پر وارداتوچې د **WTO** غړي نه دی لوړې تعرفې وضع کړي.

### دوهم پړاو: آزاد تجارت سیمه **Free Trade Area(FTA)**

که چېرې دوه یا څو هیوادونه په داسې ډول سره تړون وکړي چې پخپل منځ کې تعرفه په بشپړډول سره لغوه کړي خو هر هیواد دا حق ځان لپاره خوندي وساتي چې دنورې نړۍ څخه پر وارداتو به د تعرفې په لګولو کې آزاد لاس ولري نو ویل کیږي چې دآزاد تجارت سیمه رامنځته شوې ده.

ددغه تړون غوره بیلګه دشمالي امریکا دآزاد تجارت سیمه (**NAFTA**) ده.د (**NAFTA**) تړون په اساس دامریکا متحده ایالاتو او مکسیکو تر منځ دبیلګې په توګه دموټرو پر واردولو تعرفې صفر ته رسیدلې خو مکسیکو کولای شي چې ددرېیم هیواد لکه جاپان څخه دموټرو په واردولو لوړې تعرفې وضع کړي.

ددې په خاطر چې دآزاد تجارت په سیمه کې تجارت په منظم ډول سره پرمخ ولاړ شي نو غړي هیوادونه باید دټولو هغه اجناسو لپاره چې دنورې نړۍ څخه نومورې سیمې ته داخلیږي د سرچینې اصل او منشا قوانین یا **Rules of Origin** وضع کړي.

هغه اجناس چې د آزاد تجارت په سیمه کې تولیدیږي او په تړون کې ورڅخه یادونه شوي وي باید په آزادانه ډول پرته له تعرفې څخه له سرحداتو تیر شي. خو دمنشا دقوانینو په اساس باید ثابته شي چې نوموړي اجناس په صادرونکي هیواد کې تولید شوي او له یوه درېیمي هیواد څخه چې دنوموړي تړون غړی دی نه دي صادر شوي.

دمنشا قوانینو نه موجودیت په صورت کې هغه هیوادونه چې دنوموړي تجارتي سیمې غړي نه دي کولای شي چې دهغه هیواد له لارې چې تر ټولو کمه تعرفه لري دازاد تجارت دسیمې مارکیټ ته په مؤثر ډول سره داخل او دنوموړې سیمې دامتیازاتو څخه برخمن شي نو په همدې اساس دازاد تجارت سیمه عموماً دوه لویې ستونزې لري چې یوه یې دډیرو زیاتو اصولو او قوانینو جوړول او بله یې هم دسرحداتو ټینګه ساتنه ده چې دلویو مصارفو ایجاب کوي.

## درېیم پړاو : ګمرکي اتحادیه **costoms union**

داقتصادي انضمام په دې پړاو کې نه یواځې دا چې دغړو هیوادونو تر منځ هر ډول تجارتي خنډونه له منځه ځي بلکې دوی مکلف دي چې دنورې نړۍ څخه پر وارداتو یو شان بهرنۍ تعرفې وضع کړي یانې په دغه پړاو کې دغړو هیوادونو ګمرکي سیاستونه باید په پوره ډول سره همغږي شي په لنډ ډول سره ویلای شو چې:

یو شان بهرنۍ تعرفه + د آزاد تجادت سیمه =ګمرکي اتحادیه

دګمرکي اتحادیي تر ټولو غوره بیلګه دسل فراین اتحادیه (**Zollverein**) وه چې دجرمني دټولو مستقلو ایالتونو تر منځ په کال **1834**کې رامنځته شوې وه.

که څه هم په ګمرکي اتحادیه کې د منشا قوانینو وضع کولو اړتیا نه پیښیږي ځکه چې غړي هیوادونه ټول یو شان بهرنۍ تعرفه لري خو دګمرکي اتحادیې په وړاندې عمده ستونزه دګمرکي

پالیسیو همغږي کول دي غړي هیوادونه باید په دې وتوانیږي چې دبیلا بیلو اجناسولپاره دتعرفې داسې واحد نرخونه غوره کړي چې داتحادیې ټولو غړو ته دمنلو وړ وي.

## څلورم پړاو: ګډ بازار **Common Market (CM)**

ګډ بازارپه حقیقت کي دازاد تجارت دسیمې او ګمرکي اتحادیې یو تکامل یافته شکل دی، داقتصادي انضمام په دې پړاو کې داجناسو او خدماتو دتجارت پروراندې خنډونه په پوره ډول سره له مینځه ځي غړي هیوادونه یو شان بهرنۍ تعرفې وضع کوي او همدارنګه دهیوادونو تر منځ دپانګې او کار ګرو انتقال هم په ازادانه توګه سره صورت نیسي په لنډ ډول سره ویلای شو چې :

دپانګې او کارګرو د انتقال ازادي +ګمرکي اتحادیه =ګډبازار

اروپایي اتحادیي په **1957** م کال کې دشپږو اروپایي هیوادونو تر منځ دیو ګډ بازار په شکل تاسیس شوه او په هغه وخت کې داروپایي اقتصادي ټولنې (**Community Economic European**)په نامه سره یادیده.

## پنځم پړاو: اقتصادي اتحادیه **Economic Union (EU)**

دغه پړاو داقتصادي انضمام دپوخوالي پړاو دی په دې پړاو کې داجناسو او خدماتو تجارت په پوره ډول سره ازادیږي ، یو شان بهرنۍ تعرفه وضع کیږي دپانګې او کار ګرانوانتقال په آزادانه ډول سره صورت نیسي او ددې تر څنګ هڅه کیږي څو دکرنسۍ،کریډیت،مالیاتو اودولتي مصارفواړونده پالیسي همغږي شي.

**Benelux** داقتصادي اتحادیې یوه تاریخي نمونه ده چې **Belgium**، **Netherland** او **Luxemburg** څخه تشکیل شوي وه چې وروسته بیا داروپایي ټولنې سره یو ځای شوه په همدې ډول سره اروپایي اتحادیه هم یوې اقتصادي اتحادیې ته نږدې شوې ځکه د اروپایي اتحادیې یو ګډ بازار دټولو خصوصیاتو سربیره داقتصادي پالیسیو په همغږي کولو هم لاس پورې کړی چې **CAP** یا دکرنې مشترکه پالیسي دهغې غوره بیلګه ده. په لنډ ډول سره ویلاي شو چې:

دپالیسیوهمغمږي کول +ګډبازار =اقتصادي اتحادیه

## شپږم پړاو : سیاسي اتحادیه **Political Union**

دغه پړاو دسیمه ییز انضمام یو افراطي شکل دی په دې پړاو کې دغړو هیوادونو تر منځ داقتصادي، پولي او سیاسي سیستمونو همغږي کول شامل دي اونورې نړۍ په وړاندې داقتصادي اوسیاسي پالیسیو په برخه کې دیو ګډ دریځ ایجاب کوي.

داقتصادي انضمام مختلف پړاوونه کیدای شي په لاندې جدول کې خلاصه کړو:

| د اقتصادي انضمام پړاو | د غړو هیوادونو تر منځ د تعرفو لمنځه وړل | یوشان ګمرکي سیاست | د تولید د عواملو آزاد انتقال | یو شان اقتصادي سیاستونه |
|---|---|---|---|---|
| د آزاد تجارت تړون | هو | | | |
| ګمرکي اتحادیه | هو | هو | | |
| ګډ بازار | هو | هو | هو | |
| اقتصادي اتحادیه | هو | هو | هو | هو |

## د سیمه ییز اقتصادي انضمام اقتصادي او غېر اقتصادي اړخونه

### دسیمه ایز انضمام اقتصادي اړخونه

دسیمه ایز انضمام اغیزې **Effects of Regional Integration**

کله چې په یوه ټاکلې سیمه کې څوهیوادونه سره یوځای کیږي او یوسوداګریزبلاک جوړوي نو بې له شکه دغه تړون د غړوهیوادونو پراقتصاد او سوداګرۍ باندې په ځانګړي ډول او دنړۍ په کچه په عام ډول یو لړ مثبتې اومنفي اغیزې واردوي ددغه اغیزودڅېړلوپه منظورعموماً ګډبازار **(Common Market)** داقتصادپوهانولخوادسیمه ایزانضمام په استازیتوب څېړل کیږي دسیمه ایز انضمام اغیزې بیاپه دوه برخوویشل کیږي چې د اقتصادي اوغیراقتصادي اغیزوڅخه عبارت دي.

### لومړی: دسیمه ایز انضمام اقتصادي اغیزې
### Economic Effects of Regional Integration

**I.** ستاټیکي اغیزې

سیمه ایز انضمام داقتصادي اغیزو څېړل دوینر(**Viner**) دګډبازارکلاسیکې تیورۍ څخه پیل کیږي نوموړي دغه اغیزې دنوي تجارت رامنځته کیدلو(**Trade Creation**) اوتجارتي انحراف ( **Trade Devertion**) په توګه سره بیلي کړې.

دوینر څخه دمخه اقتصاد پوهان په دې عقیده وو چې لکه څرنګه چې ازاد تجارت په عامه رفاه اوسوکالۍ کي زیاتوالي راولي په همدې توګه دازاد تجارت په لوري هرګام هم د عین اغیزو درلودونکی دی خووینر دغه ادعا غلطه ثابته کړه نوموړي دخپلو څېړنو په ترڅ کې وښودله چې که څه هم دګډبازار رامنځته کیدل د ازادتجارت په لوري یو ګام دی خوخامخادا لازمي نه ده چې په عامه رفاه اوسوکالۍ کې زیاتوالی راوستلی شي ځکه چې دازادتجارت پرخلاف په ګډ بازارکې په تبعیضي

ډول سره تجارتي خنډونه له منځه وړل کیږي نو له همدې امله کیدای شي چې دمثبتو اغیزوترڅنګ ځیني منفي اغیزې هم ولري دوینر له نظره دسیمه ایزانضمام په پایله کي له یوې خوا نوی تجارت رامنځته کیږي اوله بلې خوا تجارتي انحراف صورت نیسي.

## دنوي تجارت رامنځته کيدل **Trade Creation**

که چېرې دګډ بازار درامنځته کيدوپه پايله کې دغړوهيوادونوڅخه ارزانه واردات دکورنيو قيمته توليداتو ځای ونيسي نو ويل کيږي چې نوی تجارت رامنځته شوی دبيلګې په توګه داروپايي اتحاديې څخه دمخه په برطانيه کې بنيبنه په لوړقيمت سره توليديده او دلوړو تعرفوترحمايې لاندې پخپله په برطانيه کې په خرڅلاو رسيده خوکله چې اروپايي اتحاديه رامنځته شوه او دغړوهيوادونوترمنځ تعرفې لغوه شوې نو په دې سره په دغه سيمه کې د بنيبنې نوی تجارت چې پخوا موجودنه وو رامنځته شو

## تجارتي انحراف **Trade Diversion**

دنوي تجارت د رامنځته کيدو برخلاف تجارتي انحراف هغه وخت صورت نيسي کله چې دغړوهيوادونو قيمته واردات دنورې نړۍ دارزانه وارداتو ځای ونيسي يانې کله چې واردات دارزانه منبع څخه يو قيمته منبع ته انتقال شي نو دغې حالت ته تجارتي انحراف ويل کيږي.
دبيلګې په توګه فرضوو چې نوی زيلاند دنړۍ دغوښې ترټولو ارزانه توليدونکی هيواد دی خو د اروپايي اتحاديې غړی نه دی برطانيه مخکې تر دې چې اروپايي اتحاديې سره يوځای شي دټولو هيوادونو څخه د غوښې په واردولو يو شان تعرفه درلوده نوله همدې امله داروپايي اتحاديې په پرتله د نوي زيلاند څخه د غوښې واردول ورته ارزانه پريوتل.
داروپايي اتحاديې سره د يوځای کيدو څخه وروسته د تعرفو  له مينځه وړلو له امله برطانيې ته داروپايي اتحاديې څخه د غوښې واردول ارزانه پريوځي ځکه چې د نوي زيلاند په وړاندې تعرفه لا هم پخپل حال پاتي ده. په دې سره استهلاک د ارزانه منبع څخه د اروپايي اتحاديې قيمته منبع ته بدل شو چې په پايله کې د نړۍ په کچه داقتصاديت اورفاه کچه راښکته شوه مګر د برطانيې په رفاه کې کيدای شي چې کموالی اوياهم زياتوالی راغلی وي.

## دنوي تجارت درامنځته کيدو او د تجارتي انحراف په اړه عمومي پايله

ديوګډبازار رامنځته کيدو په پايله کي لکه څرنګه چې ورځخه يادونه وشوه که له يوې خوا نوي تجارتونه رامنځته کيږي نو له بلې خوا ځيني برخو کې د تجارتي انحراف امکان هم شته يانې کيدای شي چې د سيمه ايز اقتصادي انضمام په پايله کې په کور دننه د ځيني قيمته توليداتوپرځای دسيمې له يو هيوادڅخه هماغه توليدات په ټيټه بيه وارد شي اوځيني نوراجناس چې پخوا دنورې نړۍ څخه وارديدل اوس د نورې نړۍ پرځای د سيمې له يو هيواد څخه چې دپخواپرتله قيمته دې وارد شي.
دوينر له نظره يو سوداګريزبلاک هغه وخت په عامه رفاه کې زياتوالی راوستلی شي چې په ټوليزه توګه مثبتې اغيزې(دنوي تجارت رامنځته کيدل) يي له منفي اغيزو(تجارتي انحراف) څخه زياتي وي.
ديورتنيو سټاټيکو اغيزو برسيره سيمه ايز انضمام يولړ ډيناميکي اغيزې هم لري چې په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوو:

## II. ډینامیکي اغیزي

**a.** شدید رقابت (سیالي) **Increased Competition**

دګډبازار په نه موجودیت او دتعرفوپه شتون کې داخلي مولدین لږ ا موخته کیږي خو که دګډبازارپه رامنځته کیدوسره تعرفې له منځه ولاړې شي نوهغوی دیته اړکیږي چې د ګډ بازار د غړوهیوادونوسره سیالي وکړي اوخپل تولیدات په لوړ کیفیت اوټیټ قیمت سره عرضه کړي چې په دې سره له یوې خوا دکارګرانو په مهارت کې او له بلې خوا دټکنالوژۍ په برخه کي بهتروالی راځي اوداخلي تولیدات په کم مصرف اولوړ کیفیت سره تولیدیږي.

**b.** دداخلي مارکیټ پراختیا **Enlarging the size of the Domestic Market**

په زیاتره کوچنیو هیوادونو کې داخلي مارکیټ په دومره اندازه لوی نه وي چې ګڼ شمېر تصدۍ حمایه کړي دګډ بازار درامنځته کیدو په پایله کې تصدۍ دې ته اړکیږي چې خپل قیمتونه دتمام شوي قیمت سره په مطابقت کې وټاکي ځکه دګڼ شمیر سیالانو شتون دتصدۍ داجناسو لپاره دتقاضا ارتجاعیت لوړوي اودا اجازه نه ورکوي چې نهایي مصرف څخه ډیرلوړقیمت په اجناسو باندې چارج کړي. له بله اړخه لوی مارکیټونه تصدیو ته موقع برابروي ترڅو دصرفه جویو(**Economies of Scale**) څخه برخورداره شي او دخپلو تولیداتو قیمتونه دمستهلیکینو لپاره راښکته کړي.

**a.** دمنابعوڅخه غوره ګټه اخیستنه **Better Utilization of Resources**

دګډبازار په رامنځته کیدو سره دغړوهیوادونو ترمنځ دپانګې اوکارګرو انتقال په ازادانه ډول سره صورت نیسي کارګر د اتحادیې هغه برخو ته ځي چیرته چې لوړ مزد ترلاسه کوي اوپه همدې ډول پانګه هغه هیوادونوته مخه کوي چیرته چې دسود نرخ لوړ وي چې په دې سره ګڼ شمیرتخنیکي اواداري بدلونونه رامنځته کیږي چې پخپل وار سره دټولنیزو اوسیاسي اغیزو درلودونکي دي.

**b.** په پانګه اچونه کې زیاتوالی **Increase in Investment**

دګډ بازارپه رامنځته کیدو سره پانګه اچونه هڅول کیږي چې ددغې اضافي پانګې اچونې په نتیجه کې منځمهاله اقتصادي وده رامنځته کیږي اوکه ددغې پانګې اچونې څخه په تخنیکي پرمختګ،دبشري منابعو د روزنې اوزیربنایي تاسیساتو په برخه کې کار واخستل شي نوداوږدمهاله اقتصادي ودې امکانات هم برابرولای شي.

## دسیمه ایز انضمام غیراقتصادي اغیزې

## Non economic effects of regional integration

داقتصادي اغیزوترڅنګ سیمه ایز انضمام یو لړغیراقتصادي اغیزې هم لري چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

**1.** سیمه ایز انضمام داختلافاتو په مخنیوي کې مرسته کوي

دیوې سیمه ایزې اتحادیې درامنځته کیدو لپاره سیاسي ملاتړ لازمي ګڼل کیږي اوهمدارنګه سیمه ایز انضمام ددیپلوماسۍ سیمه ایز ثبات لپاره یوه وسیله ده ، په عمومي توګه سیمه ایز تجارتي

مناسبات دسیالو هیوادونو ترمنځ تشنج اودجنګ درامنځته کیدو امکانات راکموي اودګاونډیو هیوادونو دحکومتونوخلکو ترمنځ دباور او اعتماد فضا رامنځته کوي.

2. د ډله ایزې چنې وهلو قدرت کې زیاتوالی **improve the collective bargaining**

په ډله ایزه توګه چنه وهل په نړیوالو خبرواترو کې درایې ورکولو په برخه کې ډیر ګټور تماميږي په همدې توګه بهرنیو مرستو او سرچېنو ته دلاسرسی او نورو برخو کې دښو اغیزو درلودونکي دي له بلې خوا نه په سیمه کې دامنیت په راوستلو کې هم اغیزمن تماميدای شي.

3. دمتضادو بلاکونورامنځته کیدل

دهر سیمه ایز انضمام بنسټیزه موخه په نوموړې سیمه کې له تجارت څخه ملاتړکول دي یانې داپه دې مانا چې هر بلاک خپلو غړو هیوادونوته دنورو په پرتله ځانګړي امتیازات ورکوي . ددغه بلاکونو بررسي داڅرګندوي چې دغړو هیوادونو تر منځ تجارت زیات اود نورې نړۍ سره دغړو هیوادونو تجارت راکميږي دغه امتیازي سیاست ددې لامل کیږي چې پانګه اچونه په نوموړې سیمه کې ددولتي ملاتړ څخه برخمنه شي او دنورې نړۍ څخه دصادرووونکو موقف کمزوری شي کیدای شي چې همدغه فلسفه ددې باعث شي چې نور هیوادونه هم دفاعي موقف اختیار کړي ادخپلو بازارونو دساتنې په موخه دبلاکونوپه جوړلو لاس پورې کړي.

## د سوکالۍ په برخه کې د مثبتو لاسته راوړنو لپاره شرایط

## Condition for positive welfare out come

یو سیمه ایز تړون هغه وخت ګټور تماميدای او خلکو لپاره سوکالي رامنځته کولای شي چې لاندې شرایط پوره کړي :

1. د غړو هیوادونو تر منځ د انضمام څخه د مخه په زیاته پیمانه تجارتي اړیکې موجودې وي هغه هیوادونه چې په خپل منځ کې ډیر کم تجارت لري باید انضمام ته ونه هڅول شي.
2. غړي هیوادونه باید له جغرافیایي اړخه سره نږدې وي ځکه چې په دې سره ترانسپورتي مصارف چې طبیعي تعرفې ګڼل کیږي راکميږي.
3. د سیمه ایز انضمام څخه وروسته باید د نورې نړۍ څخه پر وارداتو تعرفې ټیټې وي ځکه چې په دې سره د تجارتي انحراف امکانات راکميږي.
4. غړي هیوادونه باید بشپړونکي اقتصادي ساختارونه ولري که چېرې غړي هیوادونه په بشپړه توګه غیر مشابه اجناس تولیدوي نو بیا د هغوی تر منځ د اجناسو د تعویض امکانات یا ډیر کم وي او یا هیڅ شتون نه لري خو که غړي هیوادونه مشابه اجناس تولید کړي خو د تولید میتودونه یې سره متفاوت وي نو د انضمام په نتیجه کې د صنعت په داخل کې **Inter industry** تخصص تشویق کیږي.

په لنډ ډول سره ویلی شو چې سیمه ایز انضمام لپاره مناسب هیوادونه هغه دي چې پرمختیا کچه یې سره نږدې وي او غیر مشابه خو بشپړونکي یانې **complementary** تولیدي منابع ولري او په جغرافیایي لحاظ سره په نږدې سیمه کې پراته وي.

## د سیمه ییز انضمام د هڅو استحکام

## Sustainability of regional integration arrangements

که د سیمه ایز انضمام تاریخي سیر ته وکتل شي نو څرګندیږي چې د نړۍ په بیلا بیلو سیمو کې په بیلا بیلو وختونو کې د سیمه ایز انضمام لپاره زیات شمیر هڅې شوي خو زیاتره یې د پوخوالي څخه د مخه بیرته ړنګې شوي اویا هم تش په نامه اتحادیې پاتې شوي او په دې نه دي توانیدلي چې د انضمام پر لورې کوټلي ګامونه پورته او یوه اغیزمنه اتحادیه رامنځته کړي. نو اوس پوښتنه دامطرح کېږي چې له تیوریکي اړخه کوم هغه لازمي شرایط دي چې د یوې اتحادیې د کامیابۍ او ناکامۍ په اړه پریکړه کوي او د هغې سرنوشت ټاکلی شي؟

له تیوریکې اړخه په سیمه ایزه کچه انضمام هغه وخت بریالیتوب ته رسیدلی شي چې لاندې دوه ډوله شرایط پوره کړي.

لومړي: د بازار د لوبغاړو (پانګه اچونکو،سوداګرو،صنعت کارانو،متشبثینو...) له خوا باید د انضمام لپاره تقاضا موجوده وي دغه ډلې باید د اقتصادي ګټو هغه امکانات درک کړای شي چې په سیمه کې د تبادلې د بازارونو د پراختیا په پایله کې رامنځته کېږي. که د ګټې امکانات کم وي نو د انضمام پروسه کېدای شي چې ډیر زر د ناکامي سره مخ شي له بلې خوا د یادولو وړ ده چې د اقتصادي ګټو امکانات ستاتیک نه دي او کېداي شي چې د نویو تکنالوجیو د خپریدو سره دغه امکانات لا زیات شي او د مارکېټ لوبغاړو د سیمه ایز انضمام له لارې د شته امکاناتو څخه ګټې اخیستلو ته وهڅوي، په همدې توګه د انضمام لپاره باید اړتیا حس شوي وي او انضمام د بنکته نه پورته صورت ونیسي نه دا چې د پورته خوا نه تحمیل شي.

دوهم: د عرضې شرایط باید پوره کړای شي یانې سیاسي مشران باید ددې اراده او وړتیا ولري چې د سیمه ایز انضمام د پروسې په هر پړاو کې د سیمه ایزو ادارو د رامنځته کولو لپاره شته تقاضاګانو ته ځواب ووایي. په هغه صورت کې سیاسي مشران د سیمه ایز انضمام څخه خپل ملاتړ څرګندوي چې سیمه ایز انضمام په کور دننه د اقتصادي شرایطو دښه کېدو سره مرسته وکولای شي یانې د سیمه ایز انضمام د پراختیا سره هغه وخت زیاتیږي چې د هیواد د اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان وي او د اقتصادي بریاوو پر مهال دغه علاقه کمیږي. همدارنګه په سیمه کې د یو خواخوږي او برجسته هیواد شتون لازمي دی چې انضمام ته لیواله وي. داسې یو هیواد چې په سیمه کې د اصولو ،قواعدو او پالیسیو د همغږي کولو په محراق کې ځای ولري او همدارنګه ددې وړتیا او انګیزه ولري چې د سیمه ایز انضمام د پروسې په پایله کې ممکنه رامنځته شوي کړکېچونه کم کړي.

په لنډه توګه ویلای شو چې سیمه ایز انضمام په هغو سیمو کې د بریا لوړو پوړیو ته رسیدلي شي چې له یوې خوا د انضمام لپاره د بازار ځواکمن فشار موجود وي او له بلې خوا د سیمي مشران د اقتصادي انضمام په برخه کې د غښتلي سیاسي ارادې څښتنان وي.

## د سیمه ییز اقتصادي انضمام راتلونکی

په نړۍ کې دزیات شمیر هیوادونو له خوا څو اړخیزه سیمه ایزو تړونونو لاسلیک دا څرګندوي چې دغه جریان د اقتصادي ،سیاسي او کولتوري توپیرونو سره سره بیا هم صعودي بڼه لري او په نړۍ کې د نورو لویو بلاکونو د رامنځته کېدو احتمال هم لیدل کېږي د بیلګې په توګه:

امریکا،جاپان ،هانکانګ،تایوان او چین څو څو ځلې د څو ملیتي بازار جوړول تر څېړنې لاندې نیولي ددغه بلاک د رامنځته کېدو لپاره ګڼ شمیر دلایل وجود لري مثلاً جاپان او د امریکا متحده ایالات د اروپایي اتحادیې د رامنځته کېدو څخه وروسته په دې باور دي چې اروپا نور دوی ته په ښه سترګه نه ګوري له بله اړخه دغه دواړه هیوادونه په ګډه اقتصادي او سیاسي بحثونه کوي او په ګډه د ځینو مسایلو لپاره لکه د امریکا د تجارتي بیلانس د کسر د مسئلې لپاره د اصولي او بنسټیز حل په لټه کې دي او له همدې امله ددعه بلاک په رامنځته کېدو سره کېدای شي دغه مسایل تر یو حده حل شي.

له بله اړخه د چین ،تایوان او هانکانک تر منځ هم د یو بلاک د رامنځته کېدو احتمال شته دغه مسئله که له سیاسي اړخه یو څه پیچلې بریښي خو اقتصادي اړخونه یې مثبت ارزیابي کېږي ځکه چې هر یو له دغه دریو هیوادونو څخه یو ځانګړی امتیاز لري چین د نفوسو له اړخه هانکانک د منابعو او پانګې له اړخه او تایوان د صنعتي تجربې او تکنالوژیکي مهارت له اړخه ځانګړی اهمیت لري.

که چېري دغه هیوادونه یو له بل سره همکاري وکړي کولای شي د پام وړ بازار او د سیالۍ وړ یو صنعتي قطب رامنځته کړي همدا اوس هم د چین او هانکانګ تر منځ د دوه ملیارده څخه زیاته سوداګري موجوده ده او همدارنګه په چین کې د تایوان پانګه اچونه **100** ملیارده ډالره ته رسیږي.

# دریم فصل
## سیمه ییز سازمانونه
## په اروپا کې د سیمه ایز انضمام تاریخچه



په اروپا کې اوسني اقتصادي او پولي انضمام په تصادفي توګه نه دی رامنځته شوی بلکې دیوې اوږدې پروسې په ترڅ کې د ډیرو لوړو ژورو څخه تیر شوي او لا هم د تیریدو په حال کې دي. اروپايي اقتصادي ټولنه (**EEC**) اروپايي ټولنه (**EC**) د روم د تړون په اساس په **1957** میلادي کال کې د فرانسي ،جرمني ،ایټالیا، بلجیم، لوګزامبرک او هالیند له خوا رامنځته شو.که څه هم دغه د شپږو غړو هیوادونو ټولنې بیا وروسته پراختیا وکړه د **1973** میلادي کال د جنوري په لومړۍ نیټه ایرلینډ ،ډنمارک او انګلستان ورسره یو ځای شول یونان په **1981** کې او ورپسې پرتګال او هسپانیه په **1984** کال کې د اروپايي ټولنې غړیتوب تر لاسه کړ.

دغه ټولنه او سمهال ۲۸ غړي لري اود **1995** کال څخه راهیسي داروپايي اتحادیې (**EU**) په نامه یادیږي. د اروپايي اتحادیې بنسټ د اروپا د ذغالو او پو لادو د ټولني (**ECSC**) په شکل په کال **1952** کې د شپږو هیوادونو تر منځ ایښودل شوی ددغه تړون پر بنسټ د غړو هیوادونو ترمنځ د پولادو،اوسپنې او ذغالو په وړاندې ټول سوداګریز خنډونه له منځه ولاړل چې موخه یې په یادو شویو صنعتونوکې د اقتصادي صرفه جویۍ څخه برخمن کېدل او دامریکا او نورو بهرنیو مولدینو سره په اغیزمنه توګه د رقابت کول و، دغه قسمي انضمام بیا د روم د تړون په اساس په **1957** کال کې نور هم انکشاف وکړ او د ټولو امتعو لپاره دیو ګډ بازار په توګه تاسیس شو.

## د اروپایي اتحادیې مقاصد **Objectives of EU**

اروپایي اتحادیه لاندې مقاصد تعقیبوي:

**1.** د غړو هیوادونو تر منځ پرورارداتو او صادراتو باندې دهر ډول ګمرکې محصول او مقداري محدودیت له منځه وړل.

**2.** د نورې نړۍ د هیوادونو پر وړاندې د ګډې ګمرکي تعرفې او سوداګریزې پالیسۍ درلودل.

**3.** د خدماتو ،وګړو او پانګې د خوځښت پروړاندې دهر ډول خنډونو له منځه وړل.

**4.** د کرنې په برخه کې د ګډې پالیسۍ درلودل.

**5.** دداسې طرزالعملونو (پروسیجرونو) په کاروړل چې د هغې په واسطه د غړو هیوادونو اقتصادي پالیسي سره همغږي شي او د تادیاتو بیلانس کې عدم تعادل له منځه ولاړ شي.

**6.** د اروپا د ټولنیز صندوق (فنډ) رامنځته کول تر څو د کارګرانو لپاره د استخدام مناسب فرصتونه رامنځته کړي او د هغوی دژوند د ستندرد په لوړولو کې مرسته وکړي.

**7.** د اروپا د پانګې اچونې د بانک تأسیسول تر څو د ټولنې د اقتصادي انکشاف لپاره اسانتیاوې برابرې کړي.

**8.** د ترانسپورت په برخه کې د ګډې پالیسۍ خپلول.

## د اروپایي اتحادیې تشکیلات **Organization of EU**

په اروپاکې انضمام یوازي د تجارت په برخه کې نه وو بلکه د تجارت تر څنګه په نورو اقتصادي او ټولنیزو برخو کې د همغږۍ او یوځایوالي موخې یې هم تعقیبولې چې په دې سره اوسمهال اروپایي اتحادیه پنځه ادارې لري چې عبارت دي له:

**1.** د وزیرانو شورا : د وزیرانو شورا د هر هیواد یو وزیر څخه تشکیل شوې او د رایو په اکثریت سره پریکړې کوي د شورا مشري هر هیواد په نوبت سره د**6** میاشتو لپاره په غاړه اخلي د وزیرانو شورا تصمیم نیسي، قوانین جوړوي اود تړونونو د پلي کولو څخه څارنه کوي.

**2.** اروپایي کمیسیون: اروپایي کمیسیون د وزیرانو شورا سره مرسته کوي او ۲۸ غړي لري چې غړي یې د اروپایي پارلمان سره تر مشورو وروسته د غړو هیوادونو د رایو په یو والي سره د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي، دغه کمیسیون نوې پالیسي پیشنهادوي ، موجوده تړونونه او د هغوی پایلې اداره کوي او محکمې ته سرغړونکي وړاندې کوي.

**3.** محکمه **Court of justice** : محکمه ۲۸ غړي لري چې ټول یې باید قاضیان وي علاوه پر دې اته تنه متقاعد جنرالان چې په نظامي څارنوالیو کې یې دندې تر سره کړې وي ۶ کلونو لپاره د همکار

په توګه ګمارل کېږي، محکمه د کرنې ، رقابت او د مهاجرینو د ټولنیز خوندیتوب په برخه کې لانجې حل کوي په همدې توګه تړونونه او نور قوانین تفسیروي او د سرغړونکو لپاره سزاګانې ټاکې.

**4.** دمفتشینو محکمه **Court of Auditors** : ددغې ادارې مرکز په لوګزامبورګ ښار کې دی ۲۸ تنه غړي لري چې د غړو تخصص یې په عامه مالي چارو او مالي مسایلو کې وي یاد متخصصین د ۳ کلونو لپاره خپل مشر ټاکي او دمفتشینو د محمکې د مشر په توګه یادېږي، دغه اداره د اتحادیې د بودجې تفتیش کوي ،په بشپړه توګه د هغې د لګښتونو څارنه کوي او د محصول د راټولولو لپاره غوره پروسیجرونه جوړوي.

**5.** اروپایي پارلمان:د اروپایي پارلمان ټولې دندې د ۷۶۶ غړو لخوا اداره کېږي غړي یې د ۵ کلونو لپاره انتخابېږي، اروپایي پارلمان په بنسټیزه توګه یو مشورتي او معلوماتي رول ترسره کوي خو ددې صلاحیت لري چې د اروپایي کمیسیون له خوا ترتیب شوې بودجه تصویب اویا رد کړي او په همدې توګه د کمیسیون دمنحل کولو صلاحیت هم لري.

د پورتنیو ادارو تر څنګ نورې کمیټې هم لري لکه د پیسو کمیټه، ټولنیزې او اقتصادي کمیټې اوداسې نور.

## په اروپا کې د سیمه ییز انضمام عمده لاسته راوړنې

په اروپا کې انضمام درې عمده اقتصادي لاسته راوړنې لري چې په لاندې توګه دي.

- ددې یو واحد مارکیټ رامنځته کول چېرته چې اجناس، خدمات، او خلک په ازادانه توګه پرته له هیڅ ډول خنډه له پولو څخه تیریدی شي، په دې وروستیو کلونو کی د لا ژور انضمام پر لورې د اروپایي اتحادیې پرمختګ ډېر په زړه پورې و ځکه چې له یوې خوا د مارکیټ ازادي او له بلې خوا د اصولو او مقرراتو دیو ګډ کاري چوکاټ خپلول دواړو یوځای پرمختګ وکړ،چې په دې سره کمپنیو او پانګه اچونکو ته ددې زمینه برابره شوه چې د اروپا په کچه ستراتیژۍ جوړې کړي او همدارنګه د سوداګرۍ او مالي جریاناتو د پرمختګ لامل شي چې پایله یې د لوړې کچې صرفه جویۍ او د موثریت زیاتوالی شو.
- د یوې اقتصادي او پولي اتحادیې رامنځته کېدل او دواحدې کرنسۍ خپلول بازارته د یورو معرفي کېدلو په اروپا کې دمتحدو مالي بازارونو په رامنځته کېدو کې خورا مهم رول ولوباوه یورو ډېر ژر د ډالر د یو غوره متبادل په توګه رامنځته شوه.
- د پالیسیو د همغږي کولو لپاره دیو اغیزمن سیستم رامنځته کول د یورو د خپلولو په لار کې ،د غړو هیوادونو ترمنځ یو په زړه پورې یووالی په دې خبره موجود وو چې دملي اقتصاد پالیسي سره همغږې کړي او داجناسو، کار او مالي بازارونو کې تشکېلاتي ریفورمونه راولي چې په همدې تړاو غړو هیوادونو د پالیسیو د همغږي کولو لپاره یو لړ جامع کړنلارې په کار واچولې ، دغه پروسیجرونه

دپالیسیو دساحو پر بنسټ یو له بل څخه متفاوت و له یوې خوا په بشپړ ه توګه یوه  نوې کرنسي رامنځته شوه او ور سره نوې اداره تاسیس شوه له بلې خوا دمالي امورو په ځانګړې توګه دبودجې کسر پروړاندې ډیر جدي مقرارات رامنځته شول.

دکرني ګډه پالیسي : داروپایي اتحادیې یوه ستره بریا ددغې پالیسۍ میکانیزم له یو تولیدڅخه بل تولید ته توپیر لري خو اساسي خصوصیات یې یو شان دي ، دشورا لخوا دبیلابیلو تولیداتو لپاره حمایوي قیمتونه ټاکل کیږي،هر هیوادیو شین نرخ (**Green Rate**) لري چې په هغې سره حمایوي قیمتونه په ملي قیمتونوتبدیلیږي بزګران کولای شي په هره اندازه چې وغواړي تولید کړي او په حمایوي قیمتونو ( **support prices**)  (هغه قیمت چې دولت پرې صنعتي توکي دقیمتونو د سطحې د ثبات په موخه رانیسي ) سره یې وپلوري .

داتحادیې له یوه هیواد څخه بل هیواد ته دکرنیزو محصولاتو پر انتقال باندې هیڅ ډول پابندي نشته خو دنورې نړۍ څخه وارداتو ته یوازې هغه وخت اجازه ورکول کیږي چې داخلي تولیدات ټوله تقاضا اشباع نه کړای شي، په هغه صورت کې چې داخلي تولیدات له تقاضا څخه زیات وي نو بیا بزګرانوته سبسایډي ورکول کیږي تر څونوموړي اجناس نوروهیوادو ته صادر شي.

دکرنې دګډې پالیسۍ په خپلولوسره اتحادیه دکرنیزو محصولاتو له اړخه پر ځان بسیا شوه قیمتونویې په نسبي توګه ثبات وموند اوګډ بازار پر لور یې یو بل ګام پورته کړ ددغه لاسته راوړنوبرسیره (**CAP**) بیاهم ځیني ناکامۍ لري دبیلګې په توګه :

لومړی : ددغه پالیسۍ په عملي کولو سره بزګران دې ته ونه هڅول شول تر څو دنورو متبادلودندوپه لټه کې شي.

دوهم: بډایه بزګران نور هم بډایه شول دبې وزلو بزګرانو ژوند کې کوم بدلون رانغی.


دریم: دغې پالیسۍ ونه شو کړای چې کرنیزمحصولات په مناسبوقیمتونوسره مستهلیکینوته وړاندې کړي ځکه چې حمایوي قیمتونه ډیر لوړ ټاکل شوي دي.

## یورو (EURO)

د**2002** کال دجنوري په لومړۍ نیټه د اروپایي اتحادیې دپنځلس غړو څخه **12** غړو دواحدې کرنسۍ (**EURO**) چلند پیل کړ داروپایي اتحادیې نږدې **300** میلیونه اوسیدونکو ته د بانک نوټونو او یا سکو په شکل تهیه شوي،ډنمارک،سویډن او انګلستان لاتر اوسه یورو نه ده منلې اوسمهال دفرانسې دفرانک،دجرمني دمارک او ایټالوي لیرې پر ځای د یورو څخه استفاده کیږي ، دیوروپه رامنځته کیدو

سره داروپا اوسیدونکي دتبادلي د نرخ د خطراتو څخه خوندي وساتل شو دپولي معاملو لګښتونه راکم شوه،رقابت شدید او داروپا مالي مارکیټونو پراختیا وموندده اولابه نورهم غښتلي شي.

## داروپا اتحادیې غړي هیوادونه




| پلازمېنه | هیواد | ګڼه |
| --- | --- | --- |
| وین | اتریش | ۱ |
| بروکسل | بلژیک | ۲ |
| صوفیه | بلغاریه | ۳ |
| نیکوزیا | قبرس | ۴ |
| پراګ | چک | ۵ |
| کپنهاګ | ډنمارک | ۶ |
| تالین | استونیا | ۷ |
| هیلسینکی | فنلینډ | ۸ |
| پاریس | فرانسه | ۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰ | آلمان | برلین |
| ۱۱ | یونان | آتن |
| ۱۲ | مجارستان | بوداپست |
| ۱۳ | ایرلیند | دوبلین |
| ۱۴ | ایتالیا | روم |
| ۱۵ | لتویا | ریگا |
| ۱۶ | لیتوانیا | ویلنیوس |
| ۱۷ | لوگزامبورگ | لوگزامبورگ |
| ۱۸ | مالت | والتا |
| ۱۹ | هالند | آمستردام |
| ۲۰ | لهستان | ورشو |
| ۲۱ | پرتگال | لیسبون |
| ۲۲ | رومانیه | بخارست |
| ۲۳ | سلواکیه | براتیسلاوا |
| ۲۴ | اسلوونی | لیوبلیانا |
| ۲۵ | اسپانیا | مادرید |
| ۲۶ | سوئد | استکهلم |
| ۲۷ | کرواسی | زاگرب |
| ۲۸ | برتانیه | لندن |

## سارک سازمان

## South Asia Association for Regional Coopreation (SAARC)

## د سارک تاریخچه

جنوبي اسیا له جغرافیوي ،تجارتي ، او سیاسي پلوه دځانګړي اهمیت څخه بر خمنه سیمه ده ددغې سیمې زیاتره هیوادونه په یو شان ستونزو او کړاونو کې را ګیر دي چې له هغو نه یې د غربت،بې سوادی، د نفوسو زیاتوالی، په کرنې او صنعتي برخو کې وروسته پاتې والی او نور یادولای شو نو له همدې کبله دجنوبي اسیا د هیوادونو مشران په دې لټه کې شوچې یو داسې سازمان جوړ کړي چې په هغې کې به د سیمې د هیوادونو مشران سره کیني او خپلې ستونزې به په شریکه حل کوي.

په لومړي ځل د بنګله دیش ولسمشر ضیا الرحمن " دجنوبي اسیا دسیمه ایزو همکاریو سازمان" وړاندیز وکړ خو دغه سازمان هله په رسمي توګه رامنځته شو چې په کال ۱۹۸۵ ددسمبر په اتمه نیټه یې منشور د ۷ غړو هیوادونوهریو سري لانکا ،مالدیف، بنګله دیش ، هندوستان ، بوتان، نیپال ، او پاکستان دولس مشرانو لخوا تصویب شو، دغه سازمان په خپله دیارلسمه غونډه کې چې په ډاکه کې تر سره شوه دافغانستان غړیتوب ومانه، لومړی په ۲۰۰۵ م کې دڅارونکي او په ۲۰۰۷ کې بشپړ غړی شو.

همدارنګه امریکا په ۲۰۰۵ م کال ورپسې په ۲۰۰۶ م چین ورپسې جاپان ، جنوبي کوریا او اروپايي ټولنې هم دسارک سازمان دڅارونکیو په توګه غړیتوب تر لاسه کړ.

د۲۰۰۷م کال د اپریل په ۳ دریيمه نیټه د نوموړي سازمان څوارلسمه غونډه چې په نوي ډیلي کې دافغانستان دپخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون جوړه شوه افغانستان هم ددغه سازمان دایمي غړیتوب تر لاسه کړ چې په راتلونکي کې به دویټو حق ولري.

دسارک سازمان په منځته راتګ سره یو بل سیاسي لامل هم موجود و هغه داچې پر سیمه باندې د هند داغیزو دزیاتیدو له امله د چین په لمسون د جنوبي اسیا هیوادونو د یو داسې سازمان وړاندیز وکړ چې ټول غړي هیوادونه به د ویټو حق ولري په پیل کې هند دسارک د جوړیدو په هکله زړه او نازړه و. خو کله چې دهند نورو شپږو ګاونډیانو دسارک جوړیدل ومنل نو هند هم خپله خو ښي وښودله ،تر اوسه پورې هند په سارک کې د زیات نفوس، قوي اقتصاد،نظامي قوت او پراخه قلمرو په درلودلو سره مخکښ رول لوبوي.

سارک د نفوسو له پلوه په نړۍ کې تر ټولو لوی سیمه ایز سازمان دی چې تقریباً **1,5** میلیاردو څخه زیات خلک پکې ژوند کوي خو بدبختانه دې سازمان دخپلو اهدافوپه حاصلولو کې دپام وړ پر مختګ نه دی کړی او په اوس وخت کې عملي اقداماتو ته اړتیا ده خو ددې لپاره چې دغه سازمان لا ډیرې لاس ته راوړنې ولري نو باید دهند او پاکستان تر منځ په اړیکو کې ښه والی راشي.

## دسارک غړي هیوادونه په لاندینیو ساحو کې له یو بل سره همکاري کوي:

1. دزراعت اولرې پرتو سیمو د پراخوالي په برخه کې.
2. دروغتیا ګڼ نفوس او غربت په برخه کې.
3. دښځو وضعیت، ځوانان او ماشومان.
4. دچاپیریال او ځنګلونو د ساتنې په برخه کې.
5. دساینس او تکنالوژۍ په برخه کې.
6. د بشري صنایعو دودې په برخه کې.
7. د ترانسپورت په برخه کې.
8. دمصیبتونو په وخت کې یو له بل سره همکاري**.**
9. د ترهګرۍ له منځه وړل.
10. دمخدره موادو دکنترول په برخه کې.
11. کولتوري همکاري.

## دسارک اداري تشکیل

### 1. کلنۍ غونډه (Summit)

داپه سارک کې تر ټولو با صلاحیته غونډه ده چې په کال کې یو ځل دایریږي او کوربه هیواد یې د غونډې مشري په غاړه لري دسارک داوسنۍ غونډې مشري دهند دلومړي وزیر نریندرا مودي په غاړه ده.

### 2. دبهرنيو چارو وزيرانو ټولنه ( کونسل)

دسارک دغړيو هيوادونو دبهرنيو چارو وزيران په کال کې دوه ځله پرله پسې غونډې لري چې دا غونډې د غړيو هيوادونو د مشورې پر بنسټ زياتيدی هم شي.

### 3. دسارک سکرتريت

دسارک سکرتريت د نيپال په پلازمېنه کتمندو کې واقع دی،چې دسارک د سازمان په ټولو فعاليتونو، دڅارنې له مسووليت سره سره ، ددې سازمان د غړيو هيوادونو او د نورو سيمه ايزو سازمانونو سره دخبرو اترو لپاره د زمينې د برابرولو مسووليت هم پر غاړه لري.

ددغه سکرتريت مشر د الفبا د تورو له مخې د غړيو هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو د شورا لخوا د درې کلونو لپاره ټاکل کيږي چې (۷) مرستيالان لري او دسارک غړي هيوادونه د دسمبر اتمه د سارک د منشور د ورځې په توګه لمانځي.

دسارک رئيس د درې کلونو لپاره د عمومي سکرتر لخوا ټاکل کيږي خو د يو څه وخت لپاره کيدای شي د نورو غړو هيوادونو په مشوره دا نېټه د عمومي سکرتر لخوا تمديد هم شي.

## دسارک سازمان اهداف

1. دسارک د سازمان منشور ددې سازمان اهداف په لاندې ډول په ګوته کوي.
2. دجنوبي اسيا دخلکو هو ساينې ته وده ورکول او دژوندانه سطحه يې لوړول.
3. په سيمه کې د اقتصادي ودې ګړندي کول ، اجتماعي او کولتوري پرمختيا او دسيمې خلکو ته د باعزته ژوند کولو زمينه برابرول.
4. دجنوبي اسيا د هيوادونو خود کفايی ته وده ورکول.
5. دخپل منځي اعتماد رامنځته کول او يو د بل دستونزو څخه ځان خبرول.
6. په اقتصادي ،ټولنيزو ، فرهنګي ، تخنيکي ، او ساينسي ساحو کې د غړو هيوادو نو تر منځ فعالې همکارۍ ته وده ورکول.
7. له نورو مخ پر وده هيوادونو سره د همکاريو زياتول.
8. دعامه ګټو پر بنسټ خپلمنځي همکاريو ته وده ورکول.
9. له ټولو هغو نړيوالو اوسيمه ايزو سازمانونو سره همکاري کول چې سارک ته ورته اهداف ولري.

## دسارک په ساحه کې دويزې د ازادولو پلان

دغه پلان په ۱۹۸۸ م کې دسيمې دخلکو ترمنځ داړيکو دلا پياوړتيا په موخه منځته راغی چې د ۱۹۹۳ م کال څخه راپديخوا يې عملي بڼه غوره کړه چې تر اوسه يې ددغه پلان له مخې ۱۶۰۰ ويزې ورکړې دي هغه کسان چې له دې پلان څخه يې ګټه اخيستې عبارت دي له قاضي القضات، دولسي جرګې

غړي ،دکابينې وزيران ، دسارک سازمان عمومي منشي او رئيس ، دسوداګرۍ خونو مشران اود دوی د کورنۍ غړي چې عمر يې له اتلس کلونو څخه کم وي اواوس دسارک له څوارلسمې غونډې نه مخکې نومورړي سازمان دبهرنيو چارو د وزيرانو کميټې يوه اعلاميه ترتيب کړه چې د هغې له مخې به دسارک دهر غړي هيواد ژورنالستانو ته پنځوس دسارک نشانونه ورکول کيږي چې ددې نشانونو په اساس به دوی وکولای شي په جنوبي اسيا کې ازاد تګ او را تګ وکړي ، دهندوستان لومړي وزير من موهن سنګهـ دخپل هيواد له اړخه اعلان وکړ چې دوی تيار دي څو دسارک غړو هيوادونو شاګردان او استاذان ، څېړونکي ، مريضان ، او ژورنالستان به پرته له کوم ممانعت څخه سفر وکړي ، من موهن سنګهـ زياته کړه چې دجنوبي اسيا هيوادونه دې دپرمختيايي پرګرامونو پرځای دموجوده پروګرامونو دعملي کولو لپاره کار وکړي.

## دسارک بودجه

دجنوبي آسیا پرمختیایي بودجه په کال ۱۹۹۶ کال کې منځته راغله چې هدف یې په سارک غړوهیوادونو کې دپرمختیایي پروژو پرمخ بیول دي دسارک لپاره دجاپان هیواد ځانګړې بودجه لري ، نوموړی هیواد به ددغه سازمان په ساحه کې د پرګرامونو مالي لګښت په غاړه اخلي.

دجاپان هیواد ځانګړې بودجه،چې دسارک لپاره یې په نظر کې لري له دوه لارو څخه مصرفیږي:

- لومړی دهغو پروژو او پرګرامونو مالي لګښت په غاړه اخلي چې دسارک لخوا تر سره کیږي.
- دویم هغه پروژې چې په جاپان کې دحکومت لخوا نه مستقیماً ترسره کیږي.

دجاپان دبهرنیو چارو وزیر دسارک غونډې ته په خپله وینا کې داووه میلونو ډالرو دمرستې اعلان وکړ او زیاته یې کړه چې جاپان به هر کال پنځه سوه سکالر شیپونه دسارک غړوهیوادونو ته ورکوي.

## دسارک سازمان غړي هېوادونه




1. افغانستان
2. بنګله دیش
3. هندوستان

4. مالديف
5. نیپال
6. سريلانكا
7. بوتان
8. پاکستان

## دسارک څارونکي (ناظرین) غړي

1. استراليا
2. چین
3. داروپا اتحاديه
4. ماوريډيز
5. برما
6. جاپان
7. جنوبي کوريا
8. دامريکا متحده ايالات
9. ایران

## دسارک سازمان مشران او دهغوی دکار موده

( ابوالحسن_ بنگله دیش) د۱۹۸۷م کال دجنوری له ۱۵ مې څخه تر ۱۹۸۹م داکتوبر ۱۵ مې پورې.
(کانت _ هندوستان ) د۱۹۸۹م کال د اکتوبر له ۱۷ مې څخه تر ۱۹۹۱ ددسمبر ۳۱ مې پورې.
( ابراهیم حسین ذکي _ مالديف ) د۱۹۹۲ م کال دجنوري له لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۳م د دسمبر ۳۱ پورې.
( يادیو کانت سلوال _نیپال ) د۱۹۹٤ م کال دجنوري له لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۵ م د دسمبر ۳۱ مې پورې.
( نعيم الحسن _ پاکستان ) د۱۹۹٦ م کال دجنوري له لومړۍ نېټې څخه تر څخه تر ۱۹۹۸ پورې د ډسمبر تر ۳۱ مې نېټې پورې.
( نهادوډريگو _سريلانكا ) د۱۹۹۹م کال دجنوری له لومړۍ نېټې څخه تر ۲۰۰۲ م کال دجنوري تر۱۰ مې پورې.
( کیو _ اي _ ایم رحیم _ بنگله دیش ) د۲۰۰۲ م کال دجنوري له ۱۱ مې څخه تر ۲۸ د ۲۰۰۵ م کال پورې
( لیو نپو چنکیاب ډورجي _ بوتان ) د۲۰۰۵م کال دمارچ له لومړۍ نېټې څخه تر ۲۰۰۸ م کال دفبرورۍ تر۲۹ مې نېټې پورې.

(شیل کانت شرما- هندوستان) د ۲۰۰۸م د مارچ له لومړۍ نېټې څخه تر ۲۰۱۱ دفبروری تر ۲۸ مې نېټې پورې.
(فاطمه دیانا سعید- مالدیف) د ۲۰۱۱ دمارچ له لومړۍ نېټې څخه تر ۲۰۱۲ دمارچ تر ۱۱ مې نېټې پورې.
( احمد سلیم – مالدیف ) د ۲۰۱۲ دمارچ د ۱۲ مې څخه تر د ۲۰۱۴ دفبروری تر ۲۸ مې نېټې پورې.
( ارجون بهادر تاپا – نیپال) د ۲۰۱۴ دمارچ له لومړۍ نېټې څخه تر نن پورې ...

## Secertaries-General of SAARC

| | |
|---|---|
| Abul Hasan | 16 January 1985 to 15 October 1989 |
| Kant Kishore Bhargava | 17 October 1989 to 31 December 1991 |
| Ibrahim Hussein Zaki | 1 January 1992 to 31 December 1993 |
| Yadav Kant Silwal | 1 January 1994 to 31 December 1995 |
| Naeem U. Hasan | 1 January 1996 to 31 December 1998 |
| Nihal Rodrigo | 1 January 1999 to 10 January 2002 |
| Q. A. M. A. Rahim | 11 January 2002 to 28 February 2005 |
| Chenkyab Dorji | 1 March 2005 to 29 February 2008 |
| Sheel Kant Sharma | 1 March 2008 to 28 February 2011 |
| Fathimath Dhiyana Saeed | 1 March 2011 to 11 March 2012 |
| Ahmed Saleem | 12 March 2012 to 28 February 2014 |
| Arjun Bahadur Thapa | March 2014 to (present) |

## دسارک سازمان غونډې

دسارک سازمان له رامنځته کېدو تر دې مهاله پورې اتلس غونډې کړي دي او نولسمه غونډه به په راتلونکي ۲۰۱۶ ميلادي کال کې دايره شي ددغه غونډو وخت او ددايريدو ځای په لاندې ډول ذکر کېږي:

لومړۍ غونډه : د ۱۹۸۵م کال د دسمبر له ۷ مې څخه تر ۸ مې نېټې پورې دبنګله ديش په پلازمېنه ډاکه دايره شوه.

دويمه غونډه : د۱۹۸٦م کال دنومبر له ۱٦ مې څخه تر ۱۷ مې نېټې پورې د هندوستان په بنګلور ښار کې دايره شوې وه.

دريمه غونډه : د ۱۹۸۷م کال د نومبر ۲ مې نېټې څخه تر ٤ مې نېټې پورې دنيپال په پلازمېنه کتمندو کې دايره شوې وه.

څلورمه غونډه : د۱۹۸۸ م کال ددسمبر ۲۹ مې څخه تر ۳۱ مې نېټې پورې دپاکستان په پلازمېنه اسلام آباد کې دايره شوې وه.

پنځمه غونډه : د ۱۹۹۰ م کال دنومبر ۲۱ مې څخه تر ۲۳مې نېټې پورې په مالديف په مالي ښار کې دايره شوه.

شپږمه غونډه : د۱۹۹۱ م کال ددسمبر په ۲۱ نيټه دسريلانکا په پلازمېنه کولمبو کې دايره شوې وه.

اوومه غونډه : د۱۹۹۳ م کال د اپريل ۱۰ مې څخه تر ۱۱ مې نېټې پورې د بنګله ديش په پلازمېنه ډاکه کې دايره شوې وه.

اتمه غونډه : د۱۹۹۵ م کال دمی ۲ مې څخه تر ٤ مې پورې د هندوستان په پلازمېنه نوي ډيلي کې تر سره شوې.

نهمه غونډه : د ۱۹۹۷م کال د می ۱۲ مې څخه تر ۱٤ مې نېټې پورې د مالديف په مالي ښار کې دايره شوې وه.

لسمه غونډه : د۱۹۹۸ م کال دجولای ۲۹ مې څخه تر ۳۱ مې نېټې پورې دنيپال په پلازمېنه کتمندو کې دايره شوې وه.

يوولسمه غونډه : د ۲۰۰۲ م کال د جنورۍ ٤ مې څخه تر ٦ مې نېټې پورې دنيپال په پلازمېنه کتمندو کې دايره شوه.

دولسمه غونډه : د۲۰۰٤م کال دجنورۍ ۲ مې څخه تر ٦ مې پورې دپاکستان په پلازمېنه اسلام آباد کې تر سره شوې وه.

ديارلسمه غونډه : د۲۰۰۵م کال دنومبر ۱۲ مې څخه تر۱۳ مې نېټې پورې دبنګله ديش په پلازمېنه ډاکه کې تر سره شوه.

څوارلسمه غونډه : د۲۰۰۷م کال د اپريل د۳ مې څخه تر ٤ مې نېټې پورې دهندوستان په پلازمينه نوي ډيلي کې تر سره شوې ده.

پنځلسمه غونډه : د ۲۰۰۸ م کال د اګست له لومړۍ نيټې څخه تر دريېمې نيټې پورې دسريلانکا په پلازمېنه کولمبو کې دايره شوه.

شپاړلسمه غونډه : د ۲۰۱۰ م کال د اپریل له ۲۸ مې تر ۲۹ مې نېټې پورې د بوتان په پلازمېنه ټیمپو کې دایره شوې ده.
اوولسمه غونډه : د ۲۰۱۱ م کال د نومبر له ۱۰ مې څخه تر ۱۱ مې نېټې پورې دمالدیف په اډو ښار کې دایره شوه.
اتلسمه غونډه : د ۲۰۱۴ م کال د دنومبر له ۲۶ مې نه تر ۲۷ مې نېټې پورې دنیپال په پلازمېنه کتمندو کې دایره شوه.
نولسمه غونډه : د سارک سازمان ۱۹ مه غونډه به په ۲۰۱۶ میلادي کال دپاکستان په پلازمېنه اسلام آباد کې دایره شي.

## SAARC Summits

| No | Date | Country | Host | Host leader |
|---|---|---|---|---|
| 1st | 7–8 December 1985 | Bangladesh | Dhaka | Ataur Rahman Khan |
| 2nd | 16–17 November 1986 | India | Bengaluru | Rajiv Gandhi |
| 3rd | 2–4 November 1987 | Nepal | Kathmandu | Marich Man Singh Shrestha |
| 4th | 29–31 December 1988 | Pakistan | Islamabad | Benazir Bhutto |
| 5th | 21–23 November 1990 | Maldives | Malé | Maumoon Abdul Gayoom |
| 6th | 21 December 1991 | Sri Lanka | Colombo | Ranasinghe Premadasa |
| 7th | 10–11 April 1993 | Bangladesh | Dhaka | Khaleda Zia |
| 8th | 2–4 May 1995 | India | New Delhi | P V Narasimha Rao |
| 9th | 12–14 May 1997 | Maldives | Malé | Maumoon Abdul Gayoom |
| 10th | 29–31 July 1998 | Sri Lanka | Colombo | Chandrika Kumaratunga |
| 11th | 4–6 January 2002 | Nepal | Kathmandu | Sher Bahadur Deuba |
| 12th | 2–6 January 2004 | Pakistan | Islamabad | Zafarullah Khan Jamali |
| 13th | 12–13 November 2005 | Bangladesh | Dhaka | Khaleda Zia |
| 14th | 3–4 April 2007 | India | New Delhi | Manmohan Singh |
| 15th | 1–3 August 2008 | Sri Lanka | Colombo | Mahinda Rajapaksa |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **16th** | **28–29 April 2010** | **Bhutan** | **Thimphu** | **Jigme Thinley** |
| **17 th** | **10–11 November 2011** | **Maldives** | **Addu** | **Mohammed Nasheed** |
| **18 th** | **26–27 November 2014** | **Nepal** | **Kathmandu** | **Sushil Koirala** |
| **19 th** | **TBA 2016** | **Pakistan** | **Islamabad** | |

## دجنوبي آسيا دهيوادونو تر منځ دآزاد تجارت تړون (SAFTA)

دغه تړون دسارک غړو هيوادونو له خوا ددغه سازمان په دولسمه غونډه کې په دې موخه لاسليک شو چې دوی به خپله سيمه د ازاد تجارت لپاره پرانيزي داسې توقع وه چې دغه تړون به د ۲۰۰٦ م کال د جنوری میاشتې له لومړۍ نیټې څخه عملي کیږي خو تر اوسه پورې یواځې دکاغذ پرمخ پاتې دی او عملي بڼه یې نه ده غوره کړې چې اساسي علت یې دادی، چې پاکستان نه غواړي هند ته د **MFN** حيثيت ورکړي **MFN** یانې **Most Favored Nation** یا په بله اصطلاح **Normal Trade Relations** ، د **MFN** حيثيت په تجارتي اړیکو کې بې له تعصبه دټولو هیوادونو سره یو شان اړیکو ساتلو په مانا ده یانې کله چې کوم بل درېیم هیواد ته ورکړل شي او استفاده ورڅخه کوي ، تر څو چې دکشمير مسئله نه وي حل شوي او پاکستان هند ته د **MFN** حيثيت نه وي ورکړی له دې پرته دا هيڅ امکان نه لري چې **SAFTA** دې عملي بڼه غوره کړي.

که څه هم نړیوال بانک هم د ۲۰۰۶ م کال دمی په پنځمه نیټه دپاکستان څخه وغوښتل چې هند ته د **MFN** حيثيت ورکړي خو پاکستان انکار وکړ او هند ته یې د **MFN** حيثيت ورکونه دکشمير په مسئلې پورې وتړله دا په داسې حال کې ده چې پاکستان دکشمير په مسئله کې او همدارنګه د دواړو هيوادونو دسولې په خبرو اترو کې خنډونه رامنځته کوي که چېرې پاکستان پخپل دريځ همداسې پاتې شي او هند ته د **MFN** حيثيت ور نه کړي نو هند به یوازې وکړای شي چې په ۱۰۷۵ قلمه تجارتي اجناس چې په **Positive List** کې ذکر شوي تبادله کړي.

هند له پاکستان څخه غواړي چې دوی ته اجازه ورکړي څو دواګې له سرحدي لارې څخه له افغانستان سره تجارت وکړي ولې پاکستان نه غواړي چې هند دې له افغانستان سره خپل تجارت دکراچۍ بندر له لارې پرمخ بوځي کوم چې لیرې او زيات مصرف پرې راځي.
پاکستان هندي توليداتو ته د پاکستان د لارې افغانستان ته دليږلو سره مخالفت کوي اقتصاد پوهان په دې عقیده دي چې که چیرې هندي تولیدات دپاکستان د لارې افغانستان ته راوړل شي نو دهندي توليداتو قيمت به په افغانستان کې ډیر ټیټ شي په دې کار سره به په افغانستان کې دهندي توليداتو لپاره تقاضا زیاته شي چې دوی داکار په خپل ضرر بولي دپژواک خبري اژانس د راپور په اساس پاکستان کوښښ کوي چې افغانستان په تجارتي تړون کې شامل نه شي ځکه که چیرې افغانستان په **SAFTA** تړون کې شریک شي نو افغانستان به عين حيثيت ولري لکه دسارک سازمان نور غړي هیوادونه یې چې لري او په دې کار سره به افغانستان او دسارک غړو هیوادونو تر منځ په تجارت کې د پاکستان له خاورې څخه دترانزيټ حق ولري.
من موهن سنګهـ هيله څرګنده کړه چې د جنوبي اسيا هيوادونه به یو بل ته ترانزيټي اسانتياوې رامنځته کړي چې دا به نه یواځې دا چې دوی سره و نښلوي بلکې له دې کار سره به دوی له خليج ، مرکزي اسيا ، جنوب ختيځي اسيا سره ونښلوي همدارنګه من موهن سنګهـ د سارک دڅوارلسمې

غونډې په پریکړې هم خوښي څرګنده کړه چې افغانستان یې په سارک کې ددایمي غړي په توګه ومانه او زیاته یې کړه چې افغانستان د جنوبي اسیا هیوادونو سره اوږدې کولتوري او تاریخي اړیکې لري لکه څنګه چې د افغانستان موقعیت دمنځنۍ اسیا ، جنوبي اسیا ، منځني ختیځ او لرې ختیځ تر منځ پروت دی او د یو پل بڼه لري نو دا تجارت ددوی لپاره ډېر مهم رول لوبولی شي.

## د سارک پراختیا





سارک په خپله څوارلسمه غونډه کې چې د بنګله دېش په پلازمېنه ډاکه کې تر سره شوه دیوې اعلامیې په صادرولو سره افغانستان د دایمي غړي په توګه ومانه چې دې غونډې ته د پاکستان لخوا د چین هیواد وړاندیز وکړ چي یا دې د څارونکي په توګه او یا دې د دایمي غړي په توګه په سارک کې شامل شي بیا هند د جاپان وړاندیز وکړ چې په سارک کې د څارونکي په توګه شامل شي چې په دې کې دهند هدف دا و چې د چین په مقابل کې موازنه وساتي او ټینګار یې کاوه چې دغه هیواد ددې سازمان په پرمختیایي پروژو کې له دوی سره مالي مرسته کوي.

بل خوا دایران د بهرنیو چارو وزیر کمال خرازي د سارک په سازمان کې د غړیتوب غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه چې له دې سره به ایران د جنوبي اسیا هیوادونه د شرق او غرب له هیوادونو سره وتړي دا په داسې حال کې ده چې په ایران باندې د اتومي دوسیې له امله بندیزونه لګول کیږي او د ګوښه کیدو هڅې یې روانې دي ، دې ته ورته امریکا او جنوبي کوریا هم د ۲۰۰۶ م کال په اپریل کې په سارک کې دشاملیدو وړاندیز کړی و، اوس د نورو ۷ هیوادونو برسیره افغانستان هم ددایمي غړي په توګه شامل شو او چین،جاپان،امریکا او جنوبي کوریا د ناظرینو په توګه شامل دي.

د جنوبي اسیا له هیوادونو سره د چین داقتصادي او ستراتیژیکو اړیکو پراخوالی ددې لامل شو چې چین د سارک سازمان په خپله څوارلسمه غونډه کې د څارونکي غړي په توګه ومني، هند کوښښ کاوه چې په سارک کې د څارونکي په توګه د چین د غړیتوب مخنیوی وکړي خو هند په دې کار بریالی نه شو ځکه چې د سارک نورو غړو هیوادونو یې ملاتړ ونه کړ یواځې بوتان چې له چین سره یې اړیکې خرابې دي د چین په خلاف رایه ورکړه، بله خوا د هند په مقابل کې نیپال مخالفت کاوه چې که چیرې هند د چین له مخالفت څخه لاس وانخلي نو نیپال به د افغانستان غړیتوب چې دهند له لوري په سارک کې یې ددایمي غړي په توګه وړاندیز شوی و، ویټو کړي. همدارنګه د سارک نور غړي هیوادونه لکه پاکستان، بنګله دیش او سریلانکا هم د نیپال تر شا ودریدل او له هند نه یې وغوښتل چې نور د چین په وړاندې له مخالفت څخه لاس واخلي .

دسارک سازمان د جنوبي اسیا دهیوادونو ترمنځ اقتصادي همکاریو په موخه جوړشوی په دغه سازمان کې افغانستان غړیتوب به په سیمه کې د پرمختګ لپاره نورې لارې هم هوارې کړي که مونږ د افغانستان جغرافیوي موقعیت ته ځیر شو دغه هیواد جنوبي اسیا له منځنۍ اسیا څخه د طبعیي زیرمو لکه تیل  او ګازو څخه استفاده کوي او په مقابل کې به منځنۍ اسیا هم دهغوی له صنعتي تولیداتو څخه مستفید شي چي په دې لاره کې په عملي کولو سره به دسیمې د**SAFTA** افغانستان دیوه ارتباطي پله حیثیت لري چې د هیوادونو اړیکې لاپسې پیاوړي شي، زراعت یو له هغو ساحو څخه دی چې د سارک هیوادونه یې یو له بل سره همکاري کوي نو د افغانستان غړیتوب به په دې هیواد کې د کرنې په برخه کې ښه والی راولي د اصلاح شویو تخمونو او عصري ماشینونو په برخه کې به مرسته وشي چې په دې کارسره به د کوکنارو په کرلو کې هم دپام وړ کمی راشي لکه څرنګه چې افغانستان یو جنګ ځپلی هیواد دی دسارک د نورو هیوادونو په نسبت بیا رغونې ، دغربت کمښت ، دکلیوپراختیا ، د ترهګرۍ له منځه وړل،ساینس او تکنالوژۍ ، بشري منابع ، روغتیا، سوله ، امنیت او پرمختیا په برخه کې ډیره اړتیا لري نو د افغانستان شمولیت به په سارک کې دې هیواد ته ښې لاسته راوړنې ولري.

## اقتصادي همکاریو سیمه ییزسازمان (ایکو)



Economic Cooperation Organization

په ۱۹۴۶ م کال دملل متحد پورې اړوند دسوداګرۍ پراخوالي دکنفرانس (انکتاد) او هم دمخ پرودې هیوادونو دبیا رغونې اوپرمختیا په نامه د۱۹۶۰ لسیزې نومول ددې سبب شو چې په نړۍ کې دهیوادونو ترمنځ نړیواله او سیمه ییزه همکاري پیاوړې کړي، چې په دې ترڅ کې دسیمه ییزې پراختیا سازمان (**RCD**) په ۱۹۴۶م کال کې د درې هیوادونو ایران ،پاکستان او ترکیې په غړیتوب رامځته شو . داسازمان د نوموړو هیوادونو دسیاسي او اقتصادي شرایطو اوغوښتنو په اساس کوم چې هغوی کوښښ کاوه خپل اقتصادي شرایط اودصنعتي کولو طرحې په غربې سیستم سره عیارې اوهم دځمکې لاندې ذخایرو کموالی ، نوې تکنالوژۍ ته لاس رسی ، د سیمې دموجوده امکاناتو څخه استفاده ، ددې هیوادونو ترمنځ تاریخي او فرهنګي، په یو حساسه او ستراتیژیکه نقطه کې دهغوی شته والی اونور ددې سبب شو چې دغه هیوادونه دهمکاریو یوځو جانبه سازمان رامنځته کړي.

نو په همدې اساس دغه سازمان په ۱۹۴۶م کال تاسیس او په ۱۹۴۸م کې دازمیر معاهده دنوموړو هیوادونو ترمنځ دقوي همکارۍ اوفعالیتونو په هکله لاسلیک شوه.

په لومړۍ لسیزه کې داسازمان چندان بریالی نه و خو وروسته ددې هیوادونو د ځینو طرحو له کبله لکه په ایران کې دالمونیمو تولید ، په پاکستان کې دکاغذ تولید ، دبانک په هکله داساسنامې تدوین او دګمرکي همکاریو په هکله موثر اقدامات ددې سازمان داهدافو دترلاسه کولو په هکله ترسره شول مګر دا وروستۍ طرحې هم دایران داسلامي انقلاب په دوران کې وځنډول شوې اوپه نوموړي سازمان کې د ایران عضویت په تعلیق کې واچول شو چې بلاخره په ۱۳۵۹ کې داسازمان کاملاً منحل شو.

وروسته له ځو کلونوڅخه دځینوعواملو په بنیاد  لکه دایران څخه دامریکا دحمایت لمنځه تلل اوهم دایران  نوی خارجي سیاست و چې دهغې په بنسټ ایران دپاکستان او ترکیې سره نژدې کیدل غوښتل بل دایران اوعراق ترمنځ جګړه او دعربي هیوادونو له خوا په ایران اقتصادي محاصره ددې سبب شوه چې ایران دخپلو غیرعرب ګاونډیانو خواته ځان نژدې کړ  پاکستان هم دهند سره داختلافاتو په سبب او ترکیې په اروپایي اتحادیه کې دنه منلو په سبب زیات  تمایل  د سیمه ییز سازمان په رامنځته کولوکې پیدا کړ هماغه و چې نوموړو درې واړو هیوادونو یو ځل بیا یو بل ته لاس ورکړ او د (آر.سي.ډي) پرځای یې  یو نوی سازمان  دسیمه ییزې اقتصادي همکارۍ دسازمان (ایکو ) په نامه  رامنځته کړ.

## دسیمه ییزې اقتصادي همکارۍ سازمان (ایکو) پېژندنه

ایکو داقتصادي همکاریو  سیمه ییز سازمان دی چې د نړۍ په یوه مرکزي مهمه او ستراتیژیکه نقطه کې په  ۱۹۸۵ م  کال  دایران پاکستان او ترکیې هیوادونو  له خوا تاسیس شو.
ورسته کله چې شوروي اتحاد دافغانستان دمسلمان ملت دمجاهدینو په لاس ړنګ او دمرکزي آسیا هیوادونه دروسیې څخه ازاد شول نو دمرکزي آسیا هیوادونه ،آزربایجان او افغانستان هم په ۱۹۹۲ م کال کې دایکو سازمان سره یو ځای او دا وړوکی سازمان یې نسبتاً په یو لوی سازمان چې د۱۰ غړو لرونکی دی تبد یل کړ.
په اوسني وخت کې ترکیه ، ایران ، پاکستان ، افغانستان ، ترکمنستان، تاجکستان ، ازربایجان، قزاقستان، قرغزستان او ازبکستان ددې سازمان دغړو هیوادونو څخه دي.

## د ایکو غړي هیوادونه

| نښان | بیرغ او نوم | رسمي نوم | پلازمینه | پیسې | رسمي ژبې |
|---|---|---|---|---|---|
| | افغانستان | د افغانستان اسلامي جمهوریت | کابل | افغانۍ | پښتو, دری |
| | آذربایجان | د آذربایجان جمهوریت | باکو | منات | آذربایجاني |
| | ایران | د ایران اسلامي جمهوریت | تهران | ریال | فارسي |
| | قزاقستان | د قزاقستان جمهوریت | استانه | تِنگه | قزاقي |
| | قرغزستان | د قرغزستان جمهوریت | بشکیک | سوم | قرغزي |
| | پاکستان | د پاکستان اسلامي جمهوریت | اسلام آباد | روپۍ | اردو, انگریزي |
| | تاجکستان | د تاجکستان جمهوریت | دوشنبه | سومي | تاجکي |
| | ترکیه | د ترکیه جمهوریت | انقره | لیره | ترکي |
| | ترکمنستان | د ترکمنستان جمهوریت | عشق آباد | منات | ترکمني |
| | ازبکستان | د ازبکستان جمهوریت | تاشکند | سوم | ازبکي |

## دایکو سازمان موخې (اهداف)

یاد سازمان دسیمې د مهمو اقتصادي اواجتماعي سازمانونو له جملې څخه دی چې دسیمې پرمختیا لپاره تاسیس اودزیاتو اهدافو لرونکی دی چې مهم یې په لاندې ډول دي:

- د یوې مستحکمي اوقوي اقتصادی پراختیا،دسیمې داوسیدونکو د ژوند دسطحې لوړوالي او سوکالی لپاره دشرایطو لوړوالی.
- دسیمې اوسیمې څخه آخوا دسوداګرۍ پراخوالی اودسوداګریزو خنډونو له منځه وړل.
- دسیمې دهیوادونو سوداګري د نړیوالو هیوادونو له تجارتونو سره د یوځای کولو کوښښ او همدارنګه اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، تخنیکي اوعلمي همکاریو ته وده ورکول.
- دحمل ونقل او ارتباطي بنسټونو پراخوالی.
- انساني سرچینو ته د ودې ورکولو اوپراخوالي په هکله دپلان جوړول او دطبعي سرچینو څخه ګټه اخستنه دنوموړې سازمان دمهمو موخو څخه شمیرل کیږي.

## تشکیلات اوتصمیم نیوونکي ارکانونه

- دمشرانو ناسته : چې په هرو دوه کالو کې دعمومې اوټولیزو لارښوونو لپاره ترسره کیږي.
- دوزیرانو شورا: چې دسازمان دتصمیم نیونې او سیاست ایښودنې لوړ او عالي ترین ارګان دی او په کال کې یوځل جلسه کوي.
- ددایمي غړو شورا : چې دوزیرانو دشورا اجرائیوي مټ دی اوهر کال دسفیرانو په سطحه تهران کې جلسه نیسي.
- دسیمې دپلان او پروګرام جوړونې شورا: په کال کې یوځل دغړوهیوادونو دپلان جوړونې درئیسانو په سطحه جلسه کوي چې د اهدافو دلاسته راوړلو په هکله عملي برنامې، دتیرو پلانونو اوپروګرامونو څیړنه،دسیمه ییزو بنسټونو دتشکیل په هکله وړاندیزونه اونور وظایف پرغاړه لري.
- سکرتریت ( دارالانشا ): دایکو دسکرتریت مقام مقر دتهران ښار کې موقیعت لري چې دایکو دفعالیتونو نظارت،همغږي اودکنفرانسونو دترسره کیدو چارې پرمخ وړي سکرتریت دسکرتر، مرستیالانو، مدیرانو او عادي کارکونکو څخه جوړشوی دی دوزیرانو شورا دغړوهیوادونو دنومول شوو اشخاصو څخه یو تن ددرې کالو لپاره دسکرترپه حیث ټاکي چې داموده دوباره تمدید کیدای نه شي سکرتر ددې سازمان ترټولو لوړ اجرایوي مقام ګڼل کیږي.

| # | Name | Nat | Period |
|---|---|---|---|
| 1 | Alireza Salari |  | 1988 – 1992 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 2 | Shamshad Ahmad | | 1992 – 1996 |
| 3 | Onder Ozar | | 1996 – 2000 |
| 4 | Abdolrahim Gavahi | | August 2000 - July 2002 |
| 5 | Seyed Mojtaba Arastou | | July 2002 - August 2003 |
| 6 | Bekzhassar Narbayev | | August 2003 - January 2004 |
| 7 | Askhat Orazbay | | January 2004 - August 2006 |
| 8 | Khurshid Anwar | | August 2006 - August 2009 |
| 9 | Yahya Maroofi | | August 2009 - August 2012 |
| 10 | Shamil Aleskerov | | August 2012 - August 2015 |

**دایـکو جنـرل سکرتـران او دهغوی دکـار مـوده Secretaries General**

دایکو فعالیتونه دمنشي اود منشي د مرستیاالنو دنظرلاندې ددغه مدیریتونو له خوا ترسره کیږي:

دسوداګری او پانګه اچونې مدیریت.

دترانسپورت اومخابراتو مدیریت.

دکانونو،انرژی او د اوسیدنې دمحل مدیریت.

دکرنې ، صنایعو اوصحت مدیریت.

داقتصادي څېړنو اوپروژو مدیریت.

دانساني سرچینو دپراخوالي مدیریت .

همدارنګه دایکو سازمان دلاندې تخصصي موسساتو اوکاري کمیټو لرونکی دی:

داقتصادي همکاریو کمیټه.

دزراعتي همکاریو کمیټه.

دمخدره موادو دکنترول کمیټه.

دانرژۍ دهمکاریو کمیټه.
دسوداګرۍ اوصنایعو خونه.
دعلمي،فرهنګي ،اوتعلیمي همکاریو خونه.
انجینري اومشورتي کمیټه.
فرهنګي انستیتیوت.

## د ایکو غونډې

ایکو سازمان تر ۲۰۱۲ م کال پورې ۱۲ غونډې کړي دي چې په لنډه توګه یې لاندې یادونه کوو :

- لومړۍ غونډه : دایکو لومړۍ غونډه دایران په تهران ښار کې په ۱۹۹۲ م کال دفبرورۍ په ۱۶ مه او ۱۷ مه نېټه دایره شوې وه چې په ځینو مهمو موضوعاتو راڅرخېده:

په دې غونډه کې پر صادراتو دتعرفو دکمښت او یا بیخي لمنځه تللو په اړه تود بحث وشو.
دغړو هیوادونو ترمنځ دحمل و نقل ، اړیکو ، انرژۍ او کارګرې قوې په برخه کې همکاري.
دغړو هیوادونو ترمنځ داقتصادي اړیکو غښتلي کول او دغړو هیوادونو اقتصادي اړیکې له نورو بهرنیو هیوادونو سره قایمول.
آزاربایجان دنوي غړي په توګه منل.
او همدارنګه د ټولنیزو ، طبیعي او هنري هڅو په پایله کې د جوایزو او ډالیو د توزیع مراسم ترسره کول.

- دویمه غونډه : دایکو سازمان دویمه غونډه د ۱۹۹۳م دجولاۍ په میاشت کې دترکیې هیواد په استانبول ښار کې جوړه شوه، په دغه غونډه کې د استانبول په اعلامیه بحث وشو چې په کې دایکو سازمان لید لورۍ روښانه شوی و، نوموړې اعلامیه د ایکو دخارجه وزیرانو لخوا تصویب شوه، دغونډې په پای کې یوه مشترکه بیانیه په تصویب ورسېده چې په کې دغړو هیوادونو او نورې نړۍ لپاره د بشري قوې په برابرولو او همدارنګه دنړیوالو سازمانونو سره په همکارۍ ټینګار وشو، داستانبول اعلامیه چې د ایکو سازمان لید لورۍ یې روښانه کولو دلاندې ټکو په درلودو سره تصویب شوه:

هغه عمومي موخې چې تر ۲۰۰۰ م کال پورې پلان شوې وې باید لاسته راوړل شي.
دغړو هیوادونو تر منځ په بلاعوضه پانګونه بحث او نظر ونه ورکول ، او همدارنګه د خصوصي پانګونې په اړه جر او بحث.
دغړو هیوادونو ترمنځ دحمل و نقل په مدرنه طریقو بحث او نورې نړۍ ته دهغې وسعت.
علمي ، فني ، فرهنګي ، اقتصادي او تجارتي همکاري او همدارنګه دغړو هیوادونو ترمنځ په آزاد تجارت ، بازارونو او دحمل و نقل شرکتونو ته داسانتیاوو په برابرولو کې مرسته.

- درېیمه غونډه : دایکو درېیمه غونډه د ۱۹۹۵م دمی په ۱۴ مه او ۱۵ مه دپاکستان په پلازمېنه اسلام آباد کې دایره شوه چې په کې داسلام اباد اعلامیه تر بحث لاندې ونیول شوه، په دې غونډه کې یو ځل بیا په تجارتي همکاریو او دمالونو حمل و نقل په برخه کې په تاکید سره بحث وشو، هغه

سوداګر چې خپل مالونه ګړو هیوادونو ته انتقالوي هغوی ته دویزې داسانتیاوو برابرول ، دایکو د پراختیا دبانک او دبیمې دشرکت په جوړیدو تود بحث وشو.
همدارنګه ددې غونډې په پای کې یو ځل بیا د ازاد تجارت،حمل ونقل،پانګه اچونې،انرژۍ او چاپیریال ساتنې په اړه یادونه وشوه.

- ځلورمه غونډه : دایکو ځلورمه غونډه د ترکمنستان په عشق آباد کې په ۱۹۹۶ م کال د مۍ په ۱۴ مه جوړه شوه چې پکې د عشق آباد په اعلامیه خبرې اترې وشوې،چې په دې اعلامیه کې د ایکو د ساختار په بیا ترمیم او تنظم باندې بحث وشو.
- فوق العاده غونډه : دایکو دغه فوق العاده غونډه په ۱۹۹۷م کال دترکمنستان په عشق آباد کې د مۍ په ۱۴مه نېټه دایره شوه، په دې غونډه کې حمل و نقل ، انرژي او اړیکې د فوري لومړیتوبونو په توګه تر بحث لاندې ونیول شوې.
- پنځمه غونډه : ایکو خپله پنځمه غونډه په ۱۹۹۸م کال د مۍ په ۱۱ مه نېټه دقزاقستان په آلماتا کې دایره شوه، په دې غونډه کې د اکو د وزیرانو دا اوومې او اتمې جلسې په مواردو تاکیدي بحث وشو کوم چې په ۱۹۹۷ م او ۱۹۹۸ م کې په تهران کې ترسره شوې وې، دغونډې په پای کې دالماتا اعلامیه تصویب شوه چې په کې د ګمرګي تقلبونو ، د حمل و نقل د هوکړه لیک او قاچاق په اړه یادونه شوې وه. ددې تر څنګ د کرنې او صنعتي تولیداتو په اړه هم غړي هیوادونه پخپلو کې سره متقابله همکاري کوي او غړي هیوادونه به په دغه برخو کې یو بل تقویه کوي.
- شپږمه غونډه : یاده غونډه دایران په تهران ښار کې د ۲۰۰۰ م کال دجون په لسمه نېټه دایره شوه، په دې غونډه کې یو ځل بیا په فرهنګي ، اقتصادي ، هنري ، علمي او ښوونیزو همکاریو تاکید وشو او دا یادونه وشوه چې په لومړیتوبونو باندې باید غور وشي او کارونه دلومړیتوب په پام کې نیولو سره عملي شي، په دې غونډه کې دایکو د وزیرانو د نهمې او لسمې شورا پریکړې چې په ۱۹۹۹ م او ۲۰۰۰ م کې په ترتیب سره په تهران او باکو کې ترسره شوې وې یادونه او داقدام په برخه کې لاربښوونې وشوې،دایکو دمشرانو په دې غونډه کې په صنعت ، کرنه ، دسیمې په کچه داطلاعاتو دبررسۍ په برخه کې هم دغړو هیوادونو تر منځ دهمکارۍ غوښتنه وشوه، په نوموړې غونډه کې دنفتو او ګازو دنل لیکو دغزولو لپاره د کارپوهانو دپیدا کولو او ددغه پلان دعملي کولو په برخه کې هم یادونه وشوه.
- اوومه غونډه : د ایکو سازمان اوومه غونډه د ۲۰۰۲ م کال داکتوبر په ۱۴ مه نېټه د ترکیې هیواد په استانبول کې د ترکیې د رئیس جمهور په مشرۍ ترسره شوه.
- اتمه غونډه : دایکو اتمه غونډه دتاجکستان هیواد په دوشنبه کې په ۲۰۰۴ دستمبر په ۱۴ مه نېټه دایره شوه چې مشري یې ددې هیواد ولسمشر امام علي رحمانوف کوله.
- نهمه غونډه : د اقتصادي همکاریو سیمه ییز سازمان خپله نهمه غونډه په ۲۰۰۶ م کال د مۍ په پنځمه نېټه دآزاربایجان په باکو ښار کې دایره شوه چې مشري یې ددې هیواد ولسمشر کوله.




ISNA/PHOTO:AMIR POURMAND

- لسمه غونډه : د ایکو لسمه غونډه دایران هیواد په تهران ښار کې ددې هیواد دولسمشر په مشرۍ په ۲۰۰۹ م دمارچ په ۱۲ مه نېټه دایره شوه.
- یوولسمه غونډه : داقتصادي همکاریو سازمان یوولسمه غونډه د ترکیې دولسمشر عبدالله ګل په مشرۍ د ۲۰۱۰ م کال دډسمبر په ۲۳ مه نېټه په استانبول کې تر سره شوه.
- دولسمه غونډه : دغه غونډه دآزاربایجان هیواد د ولسمشر ډاکټر الهام علیو په مشرۍ ددغه هیواد په باکو ښار کې په ۲۰۱۰ م داکتوبر په ۱۶مه نېټه دایره شوې وه.




- دیارلسمه غونډه : ټاکل شوې وه چې دایکو ۱۳مه غونډه په ۲۰۱۴ م کال د پاکستان په پلازمېنه اسلام آباد کې تر سره شي.

## دسیمه ییزې اقتصادي همکارۍ سازمان (ایکو) اهمیت

دایکو غړي هیوادونه دیو مشترک تاریخي او فرهنګي میراث په لرلو په یوه مهمه حساسه او جیوپولیټیکي (د سیاسي او جغرافیایي اغېزمنو عواملو ترکیب) سیمه کې دموقیعت په لرلو سره ددې وړتیا لری چې دنړۍ داقتصادی قطب نوم ځانته خپل کړي لکه څرنګه چې مخکې مو وویل نوموړي غړي هیوادونه په یوه ستراتیژیکه نقطه کې واقع او دزیاتو طبیعي زیرمو لکه دګازاونفتو لویو زیرمو، فلزي معدني موادو لکه مس ،طلا،اوغیر فلزي معدنیاتو او ددې ټولو څخه مهم یې انساني قوت اوسرمایې درلودونکی دی.

څرنګه چې دایکو غړو هیوادونو لپاره دسیمې بازار ته درشد ورکولو ښه زمینه مساعده ده کولای شي ددې هیوادونو دراتلونکي صنعتي پراخوالي لپاره ډیر مهم کار تر سره کړي چې د صنعتي پراخوالي په پای کې به دغړو هیوادونو لپاره داجتماعي سوکالۍ او پرمختګ لپاره ښه موقع برابره شي غړي هیوادونه کولای شي په نړیوالو اقتصادي معاملاتو کې ډیره پراخه ونډه ددې سیمی په اړوند ولري.

ددې سیمې ستراتیژیک اهمیت دنړۍ داقتصادي معاملاتو په هکله داروپا،فارس خلیج،روس،هند اوچین سره ګډه پوله،ایران چې دنفتو اوګازو لوی تولیدونکی هیواد دی،ترکیه په بین المللی اوسیمه ییزو تعاملاتو کې داروپا د دروازې حیثیت لري نو په دې ډول داسازمان دشرق اوغرب دپیوستون دنقطې په نامه کولای شي دسیمې اونړۍ په اقتصادي پراخوالي کې مهم رول ولري اوخپل تاریخي ځای دسوداګرۍ اوترانزیت ددهلیز په توګه پرانیزي.

داسازمان د ۸ میلونه کیلومتره مربع مساحت درلودونکی دی چې د۳۵۰ نه تر۴۰۰ میلونه نفوس لري، ۳۰ په سلو کې مساحت یې په آسیا او ۶ په سلو کې یې دټولې نړۍ نفوس جوړ کړی دی.

آسیا او دفارس خلیج چې دنړۍ جیوپولټیک او جیو ایکونومیک سیمې ګڼل کیږي ددې اتحادیې په جغرافیایي ساحه کې شتون لري.

## د ایکو سازمان ستونزې او خنډونه

په ټولیزه توګه موږ کولای شو دایکو سازمان دپرمختګ پر وړاندې ستونزې اوخنډونه په لاندې ډول بیان کړو.

دغړو هیوادونو ترمنځ داقتصادي جوړښت بیلوالی لکه دمرکزي آسیا هیوادونه چې دبازار اقتصاد په سیستم باندې د تمرکز په لور روان دي یاهم په ترکیه کې دخصوصي سکتور پراخوالی نسبت دایکو نوروغړو ته.

دغړو هیوادونو لپاره دیو پرمختللي پلان نه درلودل او داقتصاد د نه تکمیل والي اوهم دخصوصي برخې ضعیفوالی ددې سازمان دنه پرمختګ یو دلیل ګڼل کیږي.

داکثروهیوادونو دپرمختګ لپاره دسرمایې نشتوالی په خاص ډول دافغانستان اومرکزي آسیا هیوادونو لپاره.

په غړو هیوادونوکې دسیمې او نړۍ دسوداګریزو روابطو دحمایت لپاره دځینوبنسټونو نه موجودیت.

دتجارت اوپانگه اچونې دنظارت په هکله دغړو هیوادونو له خوا دقوانینو اومقرراتو ضعیفوالی اودقوي غړو هیوادونو ترمنځ دغښتلو تجارتي او اقتصادي تعاملاتو نه موجودیت.
دغړو هیوادونو ترمنځ دسیاسي لید لوري اودښه نیت نه شتون یو پر بل بد ګماني اوداعتماد نه موجودیت.
دځینو خارجي هیوادونو نفوذ لکه دامریکا اواسراییلو شتون په ترکیه کې همدارنګه په آزربایجان، اوافغانستان کې دامریکایي نظامیانو شتون.
دنړۍ دهیوادونو ترمنځ دسیاسي ریژیمونو بیلوالی، سیاسي اوعقیدوي تعرض لکه ایران اوترکیه چې ترکیه دسیکولر حکومت غوښتونکې ده په داسې حال کې چې ایران دیو اسلامي نظام غوښتونکی اودسیکولر نظام مخالف دی.
دځیني غړو هیوادونو پیوستون دځینو نورو هغه سیمه ییزوهیوادونو سره چې ددې سازمان غړي نه دي لکه دترکیې همکاري دغرب سره په ځانګړې توګه په اروپایي اتحادیه کې دشاملیدو په هکله یا پاکستان چې په اقتصادي معاملاتو کې نیم دغرب اونیم هم دشرق لید لوری لري.
همدارنګه د ځینو غړو هیوادونو دامنیتي اوسیاسي ثبات نشتوالی( د مرکزي آسیا هیوادونو اوافغانستان) هم ددې سازمان دعمده ستونزوڅخه شمیرل کیږي.

## دایکو سازمان مهم تړونونه (معاهدې)

دایکو سوداګریز تړون : ( اکوتا ) چې دایران ، ترکیې، پاکستان اوافغانستان له خوا داکوتا تړون په اسلام آباد کې په ۹ / ۴/ ۱۳۸۳ کال دتعرفو دکموالي په هکله تصویب شو.
دحمل و نقل اوترانزیت دچوکات بندۍ هوکړه لیک : داهم دایکو دمهمو تړونونو څخه دی چې د لاندې څلورو کمیسونونو درلودونکی دی.
حقوقي کمیټه
داوسپنې دپټلۍ کمیټه
دبیمې داجراء کمیټه
د پانګه اچونې دتشویق اوملاتړ هوکړه لیک : نوموړی هوکړه لیک دافغانستان، ازربایجان،اوترکیې هیوادونو لخوا لاسلیک شوی اونورو غړو هیوادونو تراوسه دا هوکړه لیک نه دی لاسلیک کړی.
دقاچاق اوګمرکي جرایمو په هکله دایکو داطلاعاتي بانک دتاسیس تړون: نوموړی تړون دافغانستان، ازربایجان اوترکیې هیوادونو لخوا لاسلیک شوی.
دایکو دغړوهیوادونو دسوداګرو لپاره دسهولتونو دبرابرولو په اړه تړون : چې په ۱۹۹۲ م کال کې ترتیب شوی او د درې هیوادونو لخوالاسلیک او په ۲۰۰۰ م کال کې دنصاب دتاکلې اندازې په پوره کولو سره داجراء وړ وګرځېد.
دایکو دبانک دتاسیس تړون : د ۱۳۸۵ کال راهیسې داجراء وړ دی اود هغه په اساس دایکو بانک خپل فعالیت شروع کړ چې دبانک مقر په استانبول کې موقعیت لري اوپه تهران اواسلام آباد کې به یوه یوه شعبه ولري.

ایکو دسیمه ییزې همکارۍ اونړیوالې پراختیا دقوي کیدلو په هکله ځیني تخصصي بنسټونه رامنځته کړي چې مهم یې په لاندې ډول دي.
دایکو فرهنګي موسسه.
دایکو د بیمې دلوړو زده کړو موسسه.
دایکو دسوداګرۍ دپراختیا بانک.
دایکو دسوداګرۍ اوصنایعو دخونې ټولنه.
په همدې ډول دسیمې دهمکارۍ دپراختیا لپاره لاندې تخصصي مرکزونه هم تصویب شوي دي.
دو چکالۍ د مدیریت په هکله سیمه ییز مرکز په مشهد کې.
دطبیعي آفتونو په وړاندې دمبارزې سیمه ییز مرکز.
ددایمي ناروغیو پر وړاندې دمبارزې کمیسیون.
دتکنالوژۍ دانتقال سیمه ییز مرکز په تهران کې.

د شانګهای د همکارۍ سازمان

د شانګهای د همکارۍ سازمان(Shanghai Cooperation Organization (SCO  چې د څو اړخیزو سیاسي، امنیتي، اقتصادی او کلتوري همکاریو په موخه تشکیل شوی، د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۱ مېلادي کال کې د چین، روسیې، قزاقستان، قرغیزستان، تاجکستان او ازبکستان له خوا د هغه د جوړېدو د بنسټ ډبره کېښودل شوه او د لوګو رسمي ژبې یې چینایي او روسي ده. د دې سازمان اصلي او برخلیک ټاکونکی نقش د چین او روسیې په لاس کې  دی او د شانګهای ۵ د ترکیب څخه جوړ شوی سازمان دی چې په ۱۹۹۶ کال تاسیس شوی وو خو په نوموړي سازمان کې د ازبکستان د غړیتوب له تصویب څخه وروسته د (شانګهای د همکارۍ سازمان) په نوم و نومول شو. دغه سازمان پر اصلي غړو سربېره څارونکي غړي هم لري چې منګولیا په ۲۰۰۴ او افغانستان د څارونکو غړو په توګه منل شوي و چې بیا ترې افغانستان د دایمي غړي په توګه ومنل شو، اېران، هندوستان او پاکستان په ۲۰۱۲ کال د دې سازمان د څارونکو غړو په توګه منل شوي دي. د دې سازمان غړي هېوادونه که څه هم په خپلو مذاکراتو کې د سیمې په دفاعي مسایلو خبرې اترې کوي خو د ناټو یا وارسو د نظامي تړونونو په څېر یې تر دې مهاله کوم دفاعي تړون نه دی رامنځته کړی.

غړي هېوادونه

د شانګهای د همکارۍ سازمان ۷ اصلي غړی لري چې له روسیې، افغانستان، چین، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان څخه عبارت دي. همدارنګه نوموړی سازمان څلور ناظر یا څارونکي غړي لري چې له اېران، پاکستان، هندوستان او منګولیا څخه عبارت دي. همدارنګه بېلاروس، ترکیه، سریلانکا او ترکمنستان یې مېلمانه غړي دي. د امریکا د متحده ایالاتو په شمول ځینو نورو هېوادونو

هم په دغه سازمان کې د غړیتوب غوښتنه کړې  ده خو تر دې مهاله یې غړیتوب په نوموړي سازمان کې یقیني شوی نه دی.

موخې او دندې

د شانګهای د همکارۍ د سازمان مهمې موخې او دندې په لاندې ډول دي:

- لومړی: په سیاسي او اقتصادي څانګو کې د غړو هېوادونو تر منځ د متقابل اعتماد، دوستي، ښه ګاونډیتوب او خپل منځي همکاریو پیاوړتیا او په یو بل باندې ډاډ څرګندول.
- دویم: په سیمه کې د ترهګرۍ، بېلتون پالنې او سخت دریځۍ د هر ډول اشکالو سره د مبارزې په لاره کې د ګډو همکاریو پیاوړي کول.
- دریم: د سیمې په کچه په مختلفو سیاسي، اقتصادي، کلتوري، سوداګریزو، دفاعي، چاپېریال ساتنې، علمي، تخنیکي، ښوونیزو، انرژي، د اجناسو حمل و نقل او داسې نورو کې د همکاریو سمون، تشویق او همغږي کول.
- څلورم: په سیمه کې د متوازن او جامع اقتصادي، ټولنیز او کلتوري ودې لپاره مشترک اقدام کول څو په غړو هېوادنو کې د ساګنو وګړو د ژوند د کچې د لوړوالي سټنډردونه ارتقا و مومي.
- پنځم: په نړیوال اقتصاد کې د تعامل لپاره د حل لارو په برخه کې همغږي پیدا کول.
- شپږم: د نورو نړیوالو سازمانونو سره د اړیکو او همکاریو پیاوړتیا.
- اووم: د هغو نړیوالو منازعاتو د مخنیوي او ستونزو په حل کې مرسته او همکاري کول چې په ۲۱ مېلادي پېړۍ کې د نړۍ وګړي او هېوادونه ورسره مخ کېږي.

د شانګهای تاریخچه

د شانګهای د همکارۍ سازمان د لویو ځواکونو له لوري د مرکزي آسیا د ژیوپولیتیکي سیمې پر سر د سیالۍ له کبله رامنځته شو چې د دې سازمان لویه موخه د چین او پخواني شوروي اتحاد څخه د بېلو هېوادونو خپلواکو هېوادونو تر منځ د سرحدي لانجو ته حل لاره موندل او د همدې سرحد غیر نظامي کول وو. همدې موخې ته د رسېدو د حل لارو د لټولو په ترڅ کې د ۱۹۹۶ مېلادي کال د اپرېل په ۲۶مه نېټه د چین په شانګهای ښار کې د قزاقستان، چین، قرغیزستان، روسیې او تاجکستان تر منځ د سرحدي چارو د عسکري اعتماد لوظنامه لاسلیک او منځته راغله چې دغې ډلې ته د شانګهای ۵ نوم ورکړل شو. همدغې ډلې د ۱۹۹۷ مېلادي کال د اپرېل د میاشتې په ۲۴مه نېټه په مسکو کې د سرحدي ځواکونو د کموالي په منظور یو تړون لاسلیک کړ. د شانګهای ۵ د غړو هېوادونو ډلې په ۱۹۹۸ مېلادي کال د قزاقستان په الماتا، په ۱۹۹۹ مېلایدي کال د قرغیزستان په بشکک او په ۲۰۰۰ مېلادي کال د تاجکستان په دوشنبه ښارونو کې سرمشریزې غونډې وکړې. د همدې ډلې بله غونډه په ۲۰۰۱ مېلادي کال د چین په شانګهای ښار کې جوړه شوه چې د همدې غونډې په ترڅ کې ازبکستان د نوي غړي په توګه و منل شو او نوم یې د (د شانګهای د همکارۍ په سازمان) بدل شو چې د سیمې په کچه به خپلې همکارۍ پیاوړې کوي. د همدې سازمان د غړو هېوادونو مشران د

۲۰۰۲ مېلادي کال د جون په میاشت کې د روسیې په سن پترزبورګ ښار کې غونډه وکړه چې د سازمان د اساسنامې، موخو، تګلارو او کړنلارو په هکله بحث او د نظر تبادله وکړي چې د همدې ترون څخه وروسته نوموړي سازمان د نړیوالو حقوقو له نظره رسمیت پیدا کړ. د شانګهای د همکارۍ سازمان د ۲۰۱۴ مېلادي کال تر پایه د غړو هېوادونو په مرکزونو کې ټولټال ۲۷ سرمشریزې غونډې کړې دي چې له دې جملې څخه ۵ غونډې په چین، ۵ غونډې په روسیه، ۴ غونډې په ازبکستان، ۵ غونډې په قزاقستان، ۴ غونډې په تاجکستان او ۴ غونډې په قرغیزستان کې شوې دي.

د شانګهای همکارۍ سازمان اداري جوړښت

د شانګهای د همکارۍ سازمان د مختلفو نهادونو څخه تشکیل شوی چې دلته په لنډه توګه معرفي کېږي:

- لومړی : د هېوادونو د مشرانو شورا

دغه شورا د شانګهای د همکارۍ د سازمان تر ټولو لویه مرجع ده چې د همدې سازمان اساسي کرښې ټاکې، د هغه لومړیتوبونه په ګوته کوي او د فعالیتونو لارښوونه یې کوي. همدارنګه دغه شورا د شانګهای د همکارۍ سازمان لپاره په داخلي جوړښتونو او تشکیلاتو سربېره د نورو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سره د همدې سازمان د کار څرنګوالی څېړي او په تودو نړیوالو مسایلو خپل نظر څرګندوي.

- دویم : د حکومتونو د مشرانو شورا

د دې شورا مهم مسوولیت سازمان ته د بودجې برابرول او د همدې سازمان په حوزه کې د همکاریو د چوکاټ برابرو دي. باید وویل شي چې د حکومتونو د مشرانو د شورا مجلس په کال کې یو ځل جوړېږي.

- درېیم : د بهرنیو چارو د وزیرانو شورا

د دې شورا لوی مسوولیت د سازمان د غړو هېوادونو په حوزه کې د مسایلو ارزونه او هغه ته د خپلو فعالیتونو تنظم او رسیدګي ده چې د هېوادونو له مشرانو سره د لیدلو زمینه برابرول، د سازمان د برنامو تطبیق څېړنه او د نړیوالو مسایلو په برخه کې مشوره کول دي.

- څلورم : د آژانسونو د مشرانو کنفرانس

د دې کنفرانس مسوولیت په یوه ځانګړې حوزه کې چې عموماً اطلاعات دي د مسایلو بررسي او ستونزو ته حل لاره موندل دي.

- پنځم : د ملي همغږي کوونکو شورا

د دې شورا مسوولیت د سازمان د مدیرانو د عادي فعالیتونو همغږي کول دي چې لږ تر لږه په کال کې درې ځلې غونډې کوي. همدارنګه د دې شورا رییس کولای شي چې د شانګهای د سازمان څخه بهر مسایل د بهرنیو چارو د وزیرانو شورا ته د وړاندیز په توګه وړاندې کړي.

- شپږم : سکرتریت یا د منشي دفتر

دغه دفتر چې د شانګهای د همکارۍ د سازمان اجراییوي مقر ګڼل کېږي د ۲۰۰۴ کال په جنوري کې په چین کې جوړ شو. د دې دفتر مسوولیت د سازمان د فني او تخصصي چارو سمون، د سازمان د اسنادو تنظیم او بررسي او د سازمان لپاره د بودجې د طرحو وړاندې کول دي.

- اووم : د ترهګرۍ ضد اداره

دغه اداره چې د شانګهای د همکارۍ په سازمان پورې اړه لري د ۲۰۰۴ مېلادي کال د جنوري په میاشت کې د ازبکستان په مرکز تاشکند کې جوړه شوه او مسوولیت یې له ترهګرۍ او توندلاریتوب سره په مبارزه را څرخي.

فعالیتونه

د شانګهای د همکارۍ سازمان یو شمېر مهمې موخې د خپلې کاري اجنډا په راس کې ټاکلې او د هغه د تحقق لپاره یې یو شمېر فعالیتونه په لاره واچول چې په لاندې ډول دي:

د امنیتي مسایلو په هکله همکاري

په سیمه او مرکزي آسیا کې امنیتي چارې، له ترهګرۍ سره مبارزه، د بېلتون پالنې او سخت دریځي یا افراط ګرایي مخنیوی د مخدره توکو د تولید، سوداګرۍ او قاچاق سره مبارزه او داسې نور د دې سازمان د امنیتي مسایلو څخه ګڼل کېږي.
د شانګهای د همکارۍ د سازمان له لوري د ترهګرۍ په وړاندې د سیمه ییزې مبارزې چوکاټ په هغه سرمشریزه کې تصویب شو چې د ۲۰۰۴ مېلادي کال د جون په میاشت کې د ازبکستان په مرکز تاشکند کې جوړه شوې وه. دغه سازمان په ۲۰۰۶ مېلادي کال اعلان وکړ چې د سیمه ییز امنیت د تړون د موادو پر بنسټ به د غړو هېوادونو د سرحدونو په اوږدوالي کې مشترکه مبارزه کوي. همدې سازمان د ۲۰۰۶ کال د اپریل په میاشت کې اعلان وکړ چې د شانګهای د همکارۍ سازمان نه غواړي چې د ناټو یا وارسا په څېر یو نظامي تړون رامنځته کړي خو د ترهګرۍ، بېلتون پالنې او سخت دریځۍ د پدیدو زیاتوالي ته په پام سره شونې ده چې د همدې سازمان غړي هېوادونه یو مشترک ځواک جوړ کړي او په همدې موخه د غړو هېوادونو تر منځ ځو مشترک نظامي مانورونه او تمرینات اجرا شوي دي. لومړی دغه ډول مشترک نظامي تمرینات په ۲۰۰۳ مېلادي کال کې په دوو پړاونو کې په قزاقستان او چین کې ترسره شول. په ۲۰۰۵ مېلادي کال کې د چین او روسیې تر منځ د سولې تر نامه لاندې لوی مشترک نظامي تمرینات اجرا شول چې په تاریخ کې د دې دوو هېوادونو تر منځ لومړني لوی مشترک تمرینات ګڼل کېږي. د همدې تمریناتو څخه وروسته روسیې علاقه څرګنده کړه چې هندوستان هم په دې ډول مشترکو نظامي تمریناتو کې برخه واخلي او د شانګهای د همکارۍ سازمان دې خپل نظامي دریځ په نړیواله کچه تر سره کړي. د شانګهای د همکارۍ د سازمان د غړو هېوادونو د دفاع د وزیرانو له هغه توافق څخه وروسته چې د ۲۰۰۶ مېلادي کال د اپرېل په میاشت کې و شو، د چین د خلکو د جمهوریت ۴۰۰۰ سرتېرو په ۲۰۰۷ مېلادي کال کې د روسیې د اورال د

غرونو سره څېرمه د چلیابینسک په سیمه کې چې د آسیا او اروپا تر منځ سرحد ګڼل کېږي د روسیې له پوځونو سره په ګډو نظامي تمریناتو کې برخه واخیسته.

اقتصادي همکارۍ

د اقتصادي همکاریو په لړ کې د شانګهای د همکارۍ سازمان له خپل تشکیل څخه وروسته یو لړ مهم اقتصادي موخې په خپله کاري اجنډا کې شاملې کړې او د هغه د عملي کولو لپاره یې ګامونه واخیستل چې لنډیز یې دلته وړاندې کېږي.

د سوداګرۍ د کچې لوړول

د شانګهای سازمان د غړو هېوادونو تر منځ د سمه ییزو اقتصادي همکاریو چوکاټ د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۳ مېلادي کال د سپټمبر د ۲۳مې نېټې په غونډه کې لاسلیک شو. د همدې غونډې په لړ کې د چین جمهور رییس وړاندیز وکړ چې د همدې سازمان د غړو هېوادونو د آزاد مارکېټ د سیمې د رامنځته کېدو لپاره دې اوږدمهاله برنامه تر لاس لاندې و نیول شي او په همدې برخه کې یې د غړو هېوادونو تر منځ په لنډ مهاله توګه د سوداګرۍ د ودې لپاره څو عملي تګلارې وړاندې کړې. د همدې وړاندیز څخه یو کال وروسته یانې د ۲۰۰۴ مېلادي کال د سپټمبر په ۲۳مه نېټه د غړو هېوادونو تر منځ د سوداګریزې ودې په موخه داسې یو سند لاسلیک شو چې ۱۰۰ مشخصې برنامې یې درلودې. د همدې سازمان په هغه غونډه کې چې د ۲۰۰۵ مېلادي کال د اکتوبر په ۲۵ مه نېټه په مسکو کې جوړه شوه، د سازمان عمومي منشي اعلان وکړ چې د سازمان د غړو هېوادونو تر منځ د انرژي د ځانګې پروژو ته تر نورو لومړیتوب ورکوي چې د همدې حوزې د نفتو او ګاز د استخراج، ګټې اخیستنې او له خورو اوبو څخه د همدې حوزې د غړو هېوادونو استفاده ګڼل کېږي.

بانکي همکارۍ

د شانګهای د همکارۍ د سازمان بله لویه لاسته راوړنه د غړو هېوادونو تر منځ د ګډې بانکي همکارۍ د شورا رامنځته کول وو چې د غړو هېوادونو تر منځ بانکي چارو ته آسانتیا په برخه او د هغو پروژ د عملي کولو لپاره د اړتیا وړ پانګه تهیه کړي چې د سازمان له خوا مشخصې شوې او عملي کول یې ضروري ګڼل کېږي. د همدې توافق څخه وروسته د شانګهای د همکارۍ سازمان مشترکې بانکي شورا د ۲۰۰۶ مېلادي کال د نومبر په ۳۰ مه نېټه د چین په پلازمېنه پکینګ کې غونډه وکړه او د علاقې وړ مسایل یې و څېړل.

د انرژۍ مشترک کلوپ

د ۲۰۰۷ مېلادي کال د نومبر په میاشت کې مسکو د شانګهای د همکارۍ د سازمان د نړیوال کنفرانس کوربه وو چې په هغه کې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر اعلان وکړ چې روسیه غواړي په سیمه کې د همدې سازمان د غړو هېوادونو د ګډې همکارۍ په ترڅ کې د انرژۍ د مشترک کلوپ

بنسټ کنښېږدي او د هغه په تشکیل یې ټینګار وکړ. باید وویل شي چې دغه یادونه له دې مخکې د نوموړي سازمان د الماتا د ښار په غونډه کې هم شوې وه.

کلتوري همکارۍ

د شانګهای د همکارۍ د سازمان د چوکاټ یوه مهمه برخه د غړو هېوادونو تر منځ د ګډو فرهنګي او کلتوري چارو پراختیا ده او سازمان د غړو د کلتور وزیرانو خپله لومړنۍ ناسته په دې اړوند د ۲۰۰۲ مېلادي کال د اپرېل په ۱۲مه نېټه د چین په مرکز پکنیګ کې وکړه او تر خپل منځ یې د کلتوري همکاریو د پراختیا سند لاسلیک کړ. کلتوري همکاریو ته د سمون ورکولو او ګړندیتوب په موخه د شانګهای د همکارۍ سازمان غړو هېوادونو په ۲۰۰۵ مېلادي کال کې د قزاقستان په پلازمېنه آستانه کې یو لوی کلتوري فستیوال او ننداړتون جوړ کړ او په هغه کې یې د غړو هېوادونو کلتوري توکي ننداړې ته وړاندې کړل.

د ځواک توازن

د شانګهای د همکارۍ د سازمان غړي او څارونکي هېوادونه نه یوازې دا چې د اقتصادي، نظامي، اتومي او فضایي قوتونو له مخې د لوی ځواک څخه برخمن دي بلکي په نړۍ کې د انرژي د لویو مصرف کوونکو څخه هم شمېرل کېږي. د همدې سازمان د غړو او څارونکو هېوادونو د ځمکې مساحت ۳۷ میلیون کیلو متر مربع دی چې د ځمکې د وچې یو په څلورمه حصه تشکیلوي. همدارنګه د همدې سازمان د غړو هېوادونو په جغرافیایي محدوده کې ۳ میلیارد وګړي ژوند کوي، د نړۍ ۲۰ سلنه نفتي او ۵۰ سلنه ګازي ذخایر په خپله محدوده کې لري. دغه سازمان له ۲۰۰۴ مېلادي کال وروسته په عمودي او افقي ډول لوی شوی، نوي او څارونکي غړي یې زیات شوي او په نړۍ کې د یو لوی اقتصادي، سیاسي او نظامي ځواک څخه برخمن دی. د شانګهای د همکارۍ د سازمان اساسنامه په شفافیت او عسکري ناپیلیتوب ټینګار کوي خو له دې سره سره په دې کې شک نشته چې نوموړی سازمان د ناټو د نظامي سازمان په مقابل کې د موازنې نقش ادا کوي.

د شانګهای سازمان د افغانستان د امنیت په اړه غونډه کوي...



د بي بي سي د یو راپور له مخې چې په ۲۰۱۵ م کال د جولای په شپږمه نېټه یې ورکړی و داسې ویل شوي و چې شانګهای د افغانستان د امنیت په اړه غونډه کوي.
د چین د بهرنیو چارو مرستیال وزیر وویل، اټکل دی چې د روانې اونۍ ترپایه د شانګهای د ملګرتیا سازمان غونډه وشي، چې د چین ولسمشر شي جین پینګ به پکې ګډون وکړي او د افغانستان امنیت به یې د سر موضوع وي.

بیجینګ ادعا کوي، د چین لوېدیځ سینکیانګ ولایت کې بېلتونپالې ډلې، چې زیاتره یې اویغوري مسلمانان دي، د "ختیځ ترکستان" په نوم د یوه خپلواک دولت د جوړېدو هڅې کوي، او پر پاکستان او افغانستان سربېره، د منځنۍ آسیا له سخت دریځو ډلو سره تړاو لري.

د شانګهای د ملګرتیا سازمان و بېژنئ
چین دا ادعا هم کوي چې په اویغور کې د ختیځ ترکستان اسلامي غورځنګ فعالان له "اسلامي دولت" (داعش) ډلې سره همکاري لري.

هند او پاکستان

د آسيا دوه اتوم لرونکي ګاونډيان، خو د ترينګلي ګاونډيتوب هېوادونه هند او پاکستان دا اونۍ د روسيې او چين په مشرۍ د آسيا د شانګهاى د همکارۍ او ملګرتيا له سازمان سره يوځاى شول. دغه سازمان په ۲۰۰۱ کال کې جوړ شوى.

د شانګهاى د همکارۍ سازمان کې چين، روسيه، تاجکستان، ازبکستان او قرغيزستان غړيتوب لري، خو هند، پاکستان، ايران، افغانستان او منګوليا يې څارونکي دي.

د چين د بهرنيو چارو مرستيال وزير چينګ ګوپينګ د دوشنبې په ورځ (جولاى ۶) وويل "د شانګهاى د همکارۍ سازمان په غوړېدو سره له دغه سازمان سره د نورو هېوادونو د يوځاى کېدو هوډ پيدا شوى."

نوموړى وايي، له شانګهاى سازمان سره به د هند او پاکستان يوځاى کېدل د سازمان پرمختګ کې مهم رول ولري، همداشان، د دغو دواړو ګاونډيو هېوادونو ترينګلي اړيکي به ورغوي."

هند او پاکستان له ۱۹۴۷ کال راهيسې درې ځلې له يو بل سره جګړې کړې دي، چې دوه يې د کشمير پر سر وې، او دا لانجه تراوسه پاتې ده او هر يو يې د خپل ځان د ملکيت ادعا کوي.

پاکستان پر هند تور پورې کوي چې ګني په طبيعي زېرمو بډايه بلوچستان ايالت کې د بېلتون غوښتونکو ملا تړي.

د شانګهاى د همکارۍ سازمان د سخت دريځو اسلامپالو له خوا د راپورته کېدونکو ګواښونو د مخنيوي او له افغانستان نه د نشه يي توکو د قاچاق له منځه وړلو په موخه جوړ شوى.



د شانګهای دغړو هېوادونو مساحت د آسیا او اروپا په سلو کې یو شپیته خاوره او د وګړو د شمېر له مخې د نړۍ څلورمه برخه وګړي په دې هېوادونو کې ژوند کوي.

د شانګهای سازمان غونډې

- د ۲۰۰۱ کال د جون ۱۴-۱۵ نېټه: شانګهای، چین
- د ۲۰۰۲ کال د جون ۷ نېټه: پترزبورګ، روسیه
- د ۲۰۰۳ کال د مې ۲۸-۲۹ نېټه: مسکو
- د ۲۰۰۴ کال د جون ۱۷ نېټه: تاشکند، ازبکستان
- د ۲۰۰۵ کال د جولای ۵ نېټه: آستانه، قزاقستان
- د ۲۰۰۶ کال د جون ۱۴ -۱۵- نېټه :شانګهای
- د ۲۰۰۷ کال د اګست ۱۶ نېټه: بیشکیک، قرغیزستان
- د ۲۰۰۸ کال د اګست ۲۸ نېټه: دوشنبه، تاجکستان
- د ۲۰۰۹ کال د جون ۱۵-۱۶ نېټه: ایکاترینبورګ، روسیه
- د ۲۰۱۰ کال د جون ۱۰-۱۱ نېټه: تاشکند، ازبکستان
- د ۲۰۱۱ کال د جون ۱۴- ۱۵ نېټه: استانه، قزاقستان
- د ۲۰۱۲ کال د جون ۶ – ۷ نېټه: بیجینګ، چین
- د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر ۱۳ نېټه: بیشکیک، قرغیزستان
- د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر ۱۱ – ۱۲ نېټه: دوشنبه، تاجکستان
- د ۲۰۱۵ کال د جولای ۹ -۱۰ نېټه، اوفا ښار، روسیه
- د ۲۰۱۶ کال د جون ۲۳ – ۲۴ نېټه، تاشکند، ازبکستان.

د آزادۍ راډیو د ۱۳۹۴ لمریز لېږدیز کال د سرطان میاشتې د اتلسمې نېټې راپور
ولسمشرمحمد اشرف غني د شانګهای د همکارۍ او بریکس سازمانونو په سرمشریزو کې د ګډون لپاره نن روسیې ته خپل دوه ورځنی رسمي سفر پیل کړ.
د جمهوري ریاست په یوه خبرپاڼه کې راغلي چې ولسمشر به په یادو غونډو کې د ګډون ترڅنګ د دغو سازمانونو د غړیو هېوادونو له مشرانو سره په افغانستان او سیمه کې د سولې د ټینګښت، اقتصادي مسایلو او سیمې ته د ورپیښو نویو ګواښونو په ځانګړې توګه د اسلامي دولت یا داعش ډلې د مهار کولو په اړه خبرې وکړي.
په خبرپاڼه کې راغلي چې له ولسمشر سره په دغه سفر کې د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني، د ملي امنیت سلاکار محمد حنیف اتمر او د منځنۍ اسیا په چارو کې د ولسمشر سلاکار محمد شاکر کارګر ملتیا کوي.